بسم الله الرحمن الرحيم

بسمِ **اللّٰه** و الحمد للّٰهِ والصلوٰة والسلامُ علیٰ رسول **اللّٰه**

فهم دين او دهغې اصول او قواعدو باندِی مشتمل کتابونه عربۍ ژبه کښې ډير دی بعض دهغې په درس نظامی کښې شامل دی ،اول اصول الشاشی ،دوم نورالانوار ،سوم حسامی وغيره دی۔

او بعض غير درسی دی لکه اصول بزدوی وغيره،دهغې اسانولو دپاره ابتدائی رسالے اکابرو ليکلی دی ،څه په اردو کښې دی او څه په عربۍ ژبه کښې دی ۔تجربې نه ثابته ده چې د فن اسانولو د پاره داکابرو رسالے ډيری مفيدی دی خو فائده ترينه اردودان حضرات حاصلوی پختانه رونړه ترينه ازاده فائده نشی حاصلولے ، دابتدائی خلاصه خپلے مورنۍ ژبه کښې ډيره فائده ورکوی دی وجے نه مونږ ياصول فقه دپاره مختصر رساله ليکلو اراده ؤکړه ۔ تقبل **اللّٰه** منّا

مختصر تعارف د اصول فقه

پیژندګلود اصول فقه:

دا هغه قواعد دی چی د هغې په ذریعه د شرعی دلائلو نه عملی شرعی احکام حاصلولو طریقه معلومه شی ـ

موضوع د اصول فقه:

موضوع: ادلّه شرعیه او احکام شرعیه دی په دی اعتبار سره چی د هغې نه تفصیلی احکام راویستلې شی ،او احکام شرعیه په دی اعتبار سره چی هغه د ادله شرعیه نه راویستلې شوے وی۔

مقصود د اصول فقه:

د احکامو په راویستلو کښې د خطا کیدلو نه بچ کیدل ـ ددی وجے نه د اصول فقه بحثونه په دریو اهمو حصو کښې ذکر دی ـ

۱ ـ ادله شرعیه ۲ ـ احکام شرعیه ۳ ـ استنباط(یعنی احکام شرعیه د ادله شرعیه نه راویستلو طریقه)

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد للهِ رب العٰلمین والصلوٰة والسلام علیٰ سیدِ المرسلین وعلیٰ اٰله وصحبهٖ اجمعینَ۔

اول سبق

اصول فقه: دا هغه قواعد دی چی د هغې په ذریعه د شرعی دلائلو نه عملی شرعی احکام حاصلولو طریقه معلومه شی ۔

دلائل شرعیه څلوردی:

۱۔قرآن پاک ۲۔سنت نبوی ۳۔اجماع امت ٤۔قیاس

تشریح:دشریعت عملی احکامو ته فرعی احکام هم وئیلے شی،او ددی مقابل اصولی یعنی اعتقادی احکام دی خو په هغې کښې د قیاس کار نشته۔

دلائل شرعیه ته دلائل تفصیلیه هُم وائی ۔

خلاصه:

پس فن اصول فقه کښې هغه قاعدو نه بحث کیږی چی د هغې په ذریعه مذکوره دلائل شرعیه نه عملی احکام راویستلو طریقه حاصله شی ۔

دعملی احکامو راوباسلو طریقې ته استنباط او استخراج هُم وائی ۔

دافن د علم فقهے روح دے ۔پس خوږو طالبانو ددی د حصول دپاره زړه اولګوئ او خه په محنت سره ئی حاصل کړئ !۔

دویم سبق

موضوع :ددی فن موضوع دلائل شرعیه دی دد ے حیثیت نه چی هغه د شریعت عملی احکامو ته اورسوی۔

تشریح:دفن موضوع هغه وی د کوم شی د عوارض ذاتیه نه چی په دغه فن کښی بحث کولے شی ،او ذاتی عوارض هغه دی چی دغه شی ته بلاواسطه عارض کیږی ۔

غرض وغایه:

ددی فن مقصد ددلائل شرعیه نه احکام عملیه پیژندل او دَدلائلو نه احکام راویستلو باندی قدرت وی۔

تشریح:تیر شوو ائمهؒ کرامو مجتهدینو د ادله اربعه یعنی قرآن،سنت،اجماع او قیاس نه احکام څه رنګه راویستل ،دلیل معلومولو نه بغیر د مجتهدینو په خبره عمل کول د عوامو وظیفه(خاص عمل) دے۔علماء دپاره صرف دومره خبره کافی نده بلکه علماء به همیشه د دلائلو جستجو (لټون)کوی ۔

بله دا چی زمانه پمخه بدلون قبلوی نو نوی نوی واقعات راښکاره کیږی۔او د هغی احکام منصوص ندی ،نو دی قسم خبرو کښی د اجتهاد دروازه بنده نده ،نو ددی فن دویم مقصد حکم معلومولو طریقه ده د دلائل شرعیه نه چی په نؤ نؤ مسائلو کښی چی کله ضرورت پیخ شی ۔

نو معلومه شوه چی اصول فقه اصول دین دی ددین صحیح بنیاد په دے علم دے۔

دریم سبق

البحث الاول کتاب الله

کتاب **الله** نه مراد قرآن پاک دے کوم چې په رسول **الله**ﷺ نازل شوے دے۔ چې د عثمان رضی الله عنهُ په دور خلافت کښې په صحیفو کښې اولیکلے شو ،او لویو لویو طبقو نه مسلسل متواتر منقول دے چې د شک هیڅ ځائے پکښې نشته۔

تشریح: منقول په نقل متواتر سره وی تواتر نقل د لوے عظیمے جمع دومره ګڼړ خلق ئې نقل کړی چې د دروغو شک بلکل نه وی دی ته تواتر اسنادی وائې ۔

او چې لویه طبقه ئې نقل کړی او د سند ضرورت هم پاتې نشی دیته تواتر طبقة وائې ۔

دریم تواتر عملی ،یا تواتر تعامل یا تواتر توازن دے چې په امت کښې یو عمل د مخکښې نه مسلسل راروان وی لکه: ۲۰ رکعات تراویح او دا تواتر د دویم قسم خواؤشا دے یعنی دویم ته نزدے دے۔

څلورم تواتر قدر مشترک دادے چې څه امور مختلف سنَدونو سره مروی وی۔دهغې د مجموعے نه یو قدر مشترک باندی د ټولو مرویاتو اتفاق د تواتر وی ۔لکه معجزات د نبیﷺ ،او یا لکه عذابِ قبر ،روایات د مختلفو شکلونو د معجزو ،او د مختلف شکلونو د عذابِ قبر دی خو قدر مشترک نفس معجزه او نفس عذاب قبر باندی ئې اتفاق دے۔

الغرض قرآن کریم تواتر طبقةً سره منقول دے،قطعی او یقینی بلاریب منقول دے۔هم داد فقه اسلامی اصل دے دد ے تعلیمات هر دور د ضروریاتو حل ورکوی ۔

د قرآن هغه آیات چې د فقه اسلامی د احکامو سره ئې تعلق دے پنځه سؤ ۵۰۰ ته قریب دی ددی آئین اسلامی حاصلولو دپاره د یو څو خبرو پیژندل ضروری دی ـ

مثلًا: ناسخ منسوخ،مجمل مفسر،عام خاص،محکم متشابه، وغیره پیژندل ،نو د اصول فقه والا کتاب او سنت څلور تقسیمه دی چې د هغې نه شل قسمونه جوړیږی۔

خو د یو تقسیم اقسام پخپلو کښې نه جمع کیږی بلکه یو بل ته مخالف وی ،خو د ډیرو تقسیمونو په اقسامو کښې تضاد نشته ـ

د قرآن پاک چه کوم څلور تقسیمه شوی دی پدی کښې د هریو تقسیم په اقسامو کښې تضاد دے۔دا په یو لفظ کښې نشی جمع کیدے۔

خو ددی ډیر تقسیماتو په اقسامو کښې څه تخالف نشته په یو لفظ کښې خاص،حقیقت،او ظاهر جمع کیدے شی ـ

څلورم سبق التقسیم الاول

هغه معنیٰ چې کومے له لفظ وضع شوے دے د هغې په اعتبار د لفظ څلور قسمه دی۔

۱۔خاص ۲۔عام ۳۔مشترک ٤۔مؤول

تشریح :یعنی لفظ دیوے معنیٰ دپاره وضع شوے دے یا دډیرو دپاره بغیر د لحاظ د حقیقت او د مجاز د معنیٰ نه او بغیر د لحاظ ددی نه چې واضح دے که خفی۔

وجه حصر:لفظ به یا په یوه معنیٰ دلالت کوی یا په ډیرو که په یوه معنیٰ دلالت کوی او یوازی وی نو خاص، او که په یوه معنیٰ دلالت کوی او نور افراد ورسره شریک وی عام،

که په ډیرو معانیو دلالت کوی نو کتلے به شی که یوی معنیٰ لره ئی په تاویل سره ترجیح ورکړی ده او کنه صورت اول مؤول او صورت ثانی مشترک ،پس مؤول دراصل مشترک دے۔

پنځم سبق

خاص: هغه لفظ چی تنها معلوم معنی او مصداق د پاره وضع وی خو دغه معنیٰ متعیّن ذات وی لکه:زید یانوع وی لکه:رجل، یا جنس وی لکه: انسان۔

تشریح: تنها نه مراد انفراد او عدم شرکت دے یعنی لفظ په یوه معنیٰ دلالت کوی معنیٰ شخصی لکه:زید،نوعی لکه:رجل،جنسی لکه:انسان۔

یا وحدت اعتباری وی لکه:هندسے اربعة،خمسةٌ ،ستةٌ یا نور اکائیات۔ (زید،رجل،انسان دا مثالونه د اُصولیانو په اعتبار دی د منطق په اصطلاح کښی د نوع مثال انسان او د جنس مثال حیوان دے)

د فنِ منطق د جنس، نوعی مدارد اشیاؤ په حقیقة باندی دے نو که د ځوافرادو حقیقت یو وی نو نوع او که مختلف وی نو جنس۔

او فنِ اصول والو نظر په فائده او غرض باندی وی که متحد الغرض وی نو نوع او که مختلف الغرض وی نو جنس۔

نو انسان په فنِ اصول کښی جنس دے چی افراد ئی رجلٌ او اِمرئةٌ او دا مختلف الاغراض دی ۔ او رجلٌ نوع ده چی لاندی افراد د زید ،عمرو،بکر دی او دوی متحد الاغراض دی ۔

شپږم سبق

د خاص مثال:قوله تعالیٰ وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ دلته لفظ د ثلاثة خاص دے چی معلوم عدد دریو دپاره وضع دے نو

دقروء **حيض** معنیٰ کول پکار دی چی کله په طهر کښی طلاق ورکړے شی نو د هغے عدت به پوره درے حيضه جوړ شی ۔

تشريح:قروء جمع د قرء ده او مشترک دے حیض او د حیض نه پاکیت دواړه معانی ئی دی او لفظ د ثلاثة خاص دے ، نو وس به قروء مؤول کول غواړی پدی شان چی یوی معنیٰ له ئی په څه شان ترجیح ورکړو او بله معنیٰ ئی پریګدو، نو دلته قرینه ددی خبری موجود ده چی مونږه د قروء نه د حیض معنی مراد واخلو او قرینه خاص والے د ثلاثة دے چی معنی ئی معین درے دی نه کم او نه سِوا۔

او بله قرینه داده چی د طلاق ورکولو وخت سورة طلاق ړومبی ایة کښی چی طهر زمانه پکار ده ،او پدی د اُمة اجماع هم ده۔

نو چی کله په طهر کښی طلاق ورکړے شی نو عدت به پوره درے حيضه شی ۔

او که د قروء نه مراد طهر واخلے لکه چی د امام شافعیؒ رائی ده نو بیا به عدت پوره درے طهره نشی راتلے ،ځکه چی په کوم طهر کښی طلاق ورکړے شوے دے دا به هم په عدت کښی حسابیګی نو طهر به پوره نوی بلکه کَم به وی ۔نو په خاص د کتاب **الله** ثلاثة به عمل ؤنشی ،او چی حیض مراد واخلو نو عدت به پوره راشی ۔

اوؤم سبق حکم دخاص

خاص قطعی دلیل دے پدی باندی عمل واجب دے ځکه چی خپل مدلول(مادلّ علیه) ته یقینی طور باندی شامل وی ۔

اقسام دخاص

اقسام د خاص ډیر دی خو اصول فقه د څلورو نه بحث کوی۔

١ ۔امر ٢ ۔نهی ٣ ۔مطلق ٤ ۔مقیّد

ځکه چې د اکثر احکامو تعلق دی څلورو سره دے۔ددی ذکر به شلو اقسامو ذکر کولو نه روستو راشی ۔

تشریح:خاص باندی عمل واجب دے نو که چرے خبر واحد یاقیاس د خاص مخالف وی نو ګورو به که په دواړو عمل ممکن وو،او مخالفة ختمیدو او خاص کښې تغیر تبدیلی نه راتله ،نو په دواړو به عمل کولے شی ۔

اتم سبق

عام:دا هغه لفظ دے چې د افرادو یو جماعت ته شامل وی خواه لفظًا وی لکه:مُسلمونَ یا معنیً شامل وی لکه: قومٌ ،رهطٌ،مَنْ ،مَا۔

تشریح:د معنیً عام معنیٰ داده چې لفظًا اګر چې جمع نه وی خو معنیٰ ئې عامه وی ۔

بیا ددی دوه صورتونه دی :

الف:لفظ په پوره جماعت باندی هم صادق وی او په یو فرد باندی هم صادق وی لکه: مَنْ ،مَا۔

ب:لفظ په پوره جماعت باندی صادق رازی خو ګم نه ګم درے افراد ضروری وی لکه: قَومٌ ،رَهطٌ۔

فائده:د عام معنیٰ هم د خاص پشان یوه وی خو په وضع کښې د افرادو لحاظ شوے وی لکه:مسلمٌ،غیر مسلم ۔او په خاص کښې د افرادو لحاظ نه وی لکه:رجلٌ۔

فائده:عام او مطلق کښې فرق دادے چې عام بیَک وخت د تمامو افرادو دپاره وئیلے شی او مطلق په افرادو کښې د یو غیر متعین فرد دپاره وئیلے شی او بل فرد باندی علیٰ سبیل البدل وئیلے شی ۔

یعنی د عام عموم شمولی وی او د مطلق عموم بدلی وی ۔

لکه: تحریر رقبةٍ کښې رقبةٍ مطلق دے عام ندے ځکه چې مراد ترې یو فرد دے،او ددې جمع **رقاب** عام دے چې مراد ترې تمام افراد دي

هغه الفاظ چې د افرادو جماعت ته شامل وي

۱ ـ**اسم جمع** لکه: الناسُ۔

۲ ـ**جمع سالم معرف باللام** لکه: المسلمونَ۔

۳ ـ**جمع معنیً** لکه؛ مَنْ،مَا۔

٤ ـ**جمع مکسر معرف باللام** لکه:الرجالُ۔

٥ ـ**اسم اشاره چې مشارالیه ئې عام وي** لکه:هٰذالقومُ۔

٦ ـ**اسم موصول چې صله ئې عامه وي** لکه:الذی نصرَ القومَ۔

٧ ـ**اسم چې صفت ئې عام وي** لکه:الرجل العالمُ۔

٨ ـ**منفي په لائې نفي جنس وي** لکه:لاعالِمَ فی البلدِ،(نکره تحت النفی عام وي)

٩ ـ**مضاف الیه د کُلٌّ یا جمیعُ** لکه:کل الناسِ۔

۱۰ ـ**تمام اسماء چې معنیٰ د جمعیت ورکوي**
لکه:محشر،عامة،کافة،قاطبة،قومٌ،رهط،جمع، جماعة۔

نهم سبق

عام په دوه قسمه دے

الف:هغه عام چې یو فرد ترینه خاص شوے نوي یعنی په خپل عموم باقي وي ـلکه: ان **الله** بکل شیئ علیمٌ، فاقرءوا ماتیسرَ مِن القرآنِ۔

(د مانځه صحت به په نفس قرائت موقوف وی فاتحه فرض نده بلکه واجب ده۔

حکم د عام غیر مخصوص منه البعض

د خاص پشان دلیل قطعی دے عمل پری واجب دے ۔

تشریح: که خبر واحد یا قیاس دد ے خلاف راشی نو کتلے به شی چی که د عام په حکم کښی تبدیلئ نه بغیر په **خبر واحد یا قیاس** باندی عمل ممکن وی نو عمل به پری کولے شی ۔

لکه: حدیث کښی دی لاصلوٰۃ لمَن لم یقرء بفاتحةِ الکتابِ۔

دا حدیث خبر واحد دے او د اٰیة د عام حکم نه خلاف دے خو تطبیق ممکن دے چی مطلق قراءۃ فرض شی او فاتحه واجب شی ۔

نو احنافو دغه شان وکړل ۔

او که تطبیق ممکن نه وو نو بیا به خبر واحد او قیاس پریخودے شی او په عام د کتاب **الله** به عمل کولے شی ۔

لسم سبق

عام مخصوص منه البعض

ب: هغه عام چی یو فرد پکښی خاص کړ ے شو ے وی لکه: واحل **الله** البیع یعنی **الله** بیع حلاله کړی ده،بیا **الله** فرمائی و حرم الربوٰ یعنی سودی بیع ئی حرام کړی ده ،دلته په دی عام کښی د یو فرد تخصیص شو ے دے۔

حکم: تخصیص نه بعد دعام کوم افراد چی باقی پاتی شی په هغی عمل واجب دے خو دا احتمال باقی وی چی کیدے شی باقی نور هم مخصوص شی دی وجے نه دا عام ظنی شی ،دخاص پشان قطعی پاتی نشی۔

تشريح:پس باقي افرادو کښې که د تخصيص دليل وموندے شو نو په **خبر واحد او قياس** سره هم تخصيص جائز دے،تردې چې ګم نه ګم افراد باقي پاتې شي نو بيا تخصيص جائز ندے ۔

نو عام د جمع صيغه وي نو ګم نه ګم افراد ئې درې[۳] دي او که اسم جنس وي نو يو [۱] دے۔

يوؤلسم سبق

مخصِص معلوم اومجهول

مخصِص مجهول مثال :احل **الله** البيع و حرم الربوٰ۔

مخصِص معروف مثال :اُقتلوا المشركين ولا تقتلوا اهل الذمةِ چې امير جهاد حکم وکړي چې مشرکين وژنئ او اهل الذمة به نه وژنئ دلته اهل الذمة مخصص معلوم دے۔

تشريح:وحرم الربوٰ د ربوٰ معنیٰ زيادتي ده او زيادتي په هره بيعه کښې وي نو دلته د ربوٰ نه مراد کومه زيادتي ده دا خبره واضحه نده ،نو وضاحت ئې په حديث کښې راغلے دے،چې سره زر ،سپين زر،غنم،وربشے،کهجورے او مالګه چې بيع ئې د خپل جنس سره وي نو سر په سر او لاس په لاس پکار ده که کمے بيشے وي يا يو عوض ادهار وي نو سود به وي ،او که خلاف جنس سره وي نو کمے بيشي جائز خو ادهار حرام دے۔

دؤلسم سبق

مشترک: هغه لفظ چې کوم دوه يا دوؤ نه زيات داسې معانيو د پاره وضع شوے وي چې د هغې حقيقتونه او ماهيتونه مختلف وي ـ لکه:**جارية** ددې معنیٰ وينزه او کشتۍ دواړه دي ،**المشترى** د يو ستورې نوم هم دے او خريدار ته هم وائي ـ دغه شان **عين،قرء** الفاظ مشترکه دي ـ

تشریح: عام او مشترک کښې فرق دادے چې دعام وضع یوه پیره شوی وی او د مشترک وضع بیا بیا شوی وی ،او عام په مدلول کښې تعداد خو وی خو حصر نه وی او د مشترک مدلول محصور وی ،دعام افراد ټول بیَک وخت مراد کولے شی او د مشترک نه په یو وخت صرف یوه معنیٰ اخستلے شی ۔

دلفظ د مشترک کیدو وجوهات

۱۔یو قوم ئی یوے معنیٰ دپاره وضع کړی او بل ئی د بلے دپاره،یا یو قوم ئی یو زمانه کښې د یوی معنیٰ د پاره وضع کړی او بله زمانه کښې ئی دغه قوم د بلے معنیٰ دپاره وضع کړی ۔

۲۔د لفظ یوه معنیٰ حقیقی وی او بله مجازی وی د مجاز د کثرت استعمال د وجے نه په منزله د حقیقت شی ۔

۳۔دوؤ معانو کښې داسی مناسبت وو چې لفظ دواړو معانیو دپاره موضوع فهم کړے شو۔

دیارلسم سبق

حکم د مشترک

د مشترک چې کله یوه معنیٰ مراد شی نو بیا بله نشی مراد کیدے۔لکه:د قرء نه چې کله حیض مراد شی بیا طهر نشی مراد کیدے ۔

تشریح:قرء حیض او طهر دواړو په معنیٰ دے احنافو د یو څو قرائنو د وجے نه حیض مراد اغستلے دے ۔قرائن دادی۔

۱ ۔دعدت مقصد فراغت د رحم پژندل دی او داد حیض نه معلومیږی،

۲۔حدیث کښې د وینزے عدت دوه حیضه راغلے دے ۔

٣ـ دحیض نه مایوسۍ په وخت کښې بیا عدت درې میاشتې دے۔

٤ـ حیض مراد کولو کښې احتیاط دے عدت به یقینی پوره شي ،ځکه طهر مراد کولو په صورت کښې دا آخری حیض به عدت کښې شامل نشي او عدت به ددینه مخکښې پوره شي ،او د احتیاط صورت بهر حال اولیٰ دے۔

څوارلسم سبق

مؤول : کله چې د مشترک نه یوه معنیٰ په ظن غالب سره واغستلے شي یعنې ترجیح ورله ورکړے شي دیته مؤول وائی ۔

لکه: احنافو چې د مختلفو قرینو په بنیاد باندې د قروء معنیٰ حیض متعین کړے ده نو قروء ته وس مؤول وئیلے شي ۔

حکم د مؤول: سره د خطرے د خطائۍ نه په مؤول عمل کول واجب دی ۔

تشریح:١ـ کچرے د لفظ مشترک یوه معنیٰ پخپله د متکلم د بیان نه معلومه شوې وی نو بیا دا **مفسَّر** دے مؤول ندے

٢ـ مؤول د تاویل نه د اسم مفعول صیغه ده دیوے خبرے مطلب د څه اندازې نه معلومول د ظن او احتمال په درجه کښې وی قطعی او یقینی نه وی ۔

٣ـ **وجوه ترجیح او قرائن بطور مثال دادی :**

الف:سیاق سباق کښې قرینه یا علامه اومندل شي ،**ب:** عقلی قرینه،**ج:** خارجی قرینه،**د:**د محل کلام تقاضا۔

مثلاً:په یو علم کښې یو لفظ خاص مفهوم لرې نو هُم هغه مفهوم به اراده کولے شي ،د قرینے نه بغیر به لغوی معنیٰ نشي مراد کیدے۔

تشریح د حکم د مؤول: چې سره د خطرے د خطائۍ نه په مؤول عمل کول واجب دی ۔

لکه: د قروء معنیٰ چې کله حیض متعینه شوه نو اوس عدت په حیض سره تیرول واجب دی سره ددی احتمال نه چې کیدے شی طهر معنیٰ باندی وی ۔اوحیض صحیح نوی ۔

او په مفسر باندی یقینی طور عمل واجب دے ځکه چې ددی د معنیٰ تعین پخپله متکلم کړے دے نو د خطا احتمال پاتی نشو۔

پنځلسم سبق

دویم تقسیم په اعتبار د استعمال باندی :

د لفظ استعمال په معنیٰ موضوع له کښې وی او که غیر موضوع له کښې پدی اعتبار سره د لفظ دوه قسمه دی ۔**حقیقت،مجاز۔**

بیا پدی اعتبار چې د لفظ مراد واضح دے که غیر واضح پدی اعتبار هم دوه قسمه دی ۔**صریح ،کنایه۔**

نو حقیقت سره صریح او کنایه جمع کیدے شی او دغه رنګ مجاز سره هم صریح او کنایه جمع کیدے شی ۔

۱ ۔**حقیقت:**دا هغه لفظ دے چې د هغه نه د هغې معنیٰ موضوع له مراد کړے شوی وی ۔لکه:شیر د درنده په معنیٰ او مونځ د مخصوص عبادت په معنیٰ۔

حکم د حقیقت:د لفظ حقیقی معنیٰ به بهر حال ثابته وی خواه خاص وی یا عام۔

تشریح:حقیقت بروزن فعیلة دے د حقٌ نه ماخوذ دے۔معنیٰ ئې ده **ثابتیدل**۔د وضع معنیٰ داده چه د یو لفظ د یوے معنیٰ دپاره تعین وشی او بغیر د قرینے نه فهم شی ۔

بیا دا تعین که د اهل زبان د طرفنه وی نو **وضع لغوی** او که د شریعة د طرفنه وی نو **وضع شرعی** او که د مخصوص قوم فقهاء،صرفیانو،نحویانو،صوفیاء دطرفنه وی نو **وضع عرف خاص** او که نه وی نو بیا **وضع عرف عام۔**

حکم: د لفظ حقیقی معنیٰ به بهرحال ثابته وی یعنی د قرینے یا نیت ضرورت به نه وی ۔او حقیقت او مجاز د عام او خاص سره جمع کیدے شی۔

شپاړسم سبق

المجاز:هغه لفظ دے چی د هغے نه معنیٰ موضوع له مراد نه وی۔بلکه څه بله معنیٰ مراد کړے شوی وی ۔او د معنیٰ حقیقی او مجازی مابین کښی څه مناسبت موندے شی ۔**لکه د شیر نه بهادرسړے مراد کول۔**

حکم د مجاز:د لفظ نه چی کومه معنیٰ موضوع له مراد کړے شوے ده هغه به ثابته وی،برابره ده که دغه معنیٰ خاص وی او که عام۔

تشریح:مَجاز د میم د **زبر** سره مصدر میمی دے معنیٰ ئی ده فاصله وهل ،لار وهل۔**جاز الطریقَ** لارئی ووهله۔ او مجاز هم د حیقیقی معنیٰ مخے ته لاړ شی دی وجے ورته مجاز وائی ۔

مجاز صرف په مفرد کښی نه وی بلکه په مرکبات او جُمَلو کښی هم وی ۔د محاوراتو او ضرب الامثال استعمال هم بطور مجاز وی ۔

مُجاز د میم پیش سره د اسم مفعول صیغه ده په معنیٰ د اجازت ورکړے شوی۔لکه د یو شیخ مُجاز وی ،عام طورنور دا

خلیفه مَجاز وئیلے شی خودا خلیفه مُجاز دے۔

بله تشریح د حکم دمجاز: چې مجازی معنی به ثابته وی نو د مجازی معنیٰ تحقق په دوؤ شرطونو موقوف دے ۔ **۱۔نیت ۲۔مناسبت۔** چې د معنی موضوع له او غیر موضوع له مابین مناسبت وی ۔نو که څوک خپلے ښځې ته اووئی چې ته آسمان ئی ،یا ته ځناور ئی او معنی د طلاق ئی مراد کړه نو طلاق به نه واقع کیږی۔

اؤولسم سبق

الصریح والکنایة

الصریح: دا هغه لفظ دے چې مراد ئی ظاهر وی یعنی د لفظ اوریدو سره مراد فهم شی ۔لکه:د بائع وئیل **بعتُ** ما خرڅ کړی او د مشتری **اشتریتُ** مااخیستی دا دواړه لفظونه صریح دی۔

حکم د صریح: معنیٰ ئی خود بخود ثابت وی د نیت حاجت ورله نشته ۔لکه چې څوک ښځې ته اووئی چې ته طلاقه ئی نو دلته بغیر د نیت نه هم طلاق واقع شو۔

کنایه: هغه لفظ چې د هغې معنیٰ بغیر د قرینے نه ذهن ته نه رازی ۔لکه خاوند خپلې ښځې ته وائی **انتِ بائن** ته جدا ئی ۔

حکم د کنایه: معنیٰ به ئی هله ثابت وی چې نیت اوموندل شی یا دلالت حال اوموندل شی ،یعنی د طلاق گفتگو وی یا د غصے حالت وی او طلاق کنایه الفاظ استعمال شی ۔نو دلته به بلا نیت هم طلاق واقع وی دلالت حال به د نیت قائم مقام شی ۔

اتلسم سبق

التقسیم الثالث باعتبار ظهور المعنیٰ وخَفائهٖ

معنیٰ واضحه په اعتبار سره لفظ په څلور قسمه دے : ۱۔الظاهر ۲۔النص ۳۔المفسر ٤۔المحکم۔

پوشيدګی او ابهام په اعتبار سره هم د لفظ څلور قسمه دی
۔۱۔خفی ۲۔مشکل ۳۔مجمل ٤۔متشابهـ۔

پس دا قسمونه يو بل ته متقابل دی ۔

تشريح: ړومبی **څلور قسمه** د ظهور مراتب او درجے دی دی وجے ددی خپلو کښی تقابل نشته۔

او دويم **څلور قسمه** د دپټوالی مراتب او درجے دی دی وجے ددی خپلو کښی هم تقابل نشته۔

بلکه د اول **څلور قسمه** مقابل دوئم **څلور قسمه** دی۔

د **ظاهر** مقابل **خفی** د **نص** مقابل **مشکل** د **مفسر** مقابل **مجمل** او د **محکم** مقابل **متشابهـ**۔

نولسم سبق

الظاهر: دا هغه لفظ دے چی معنیٰ مراده ئی د لفظ نه سامع فهم کړی د غور ضرورت نه وی ،البته دد غ لفظ نه ثابت حکم د کلام مقصود نه وی۔لکه: **و احل الله البيع وحرم الربوٰ** ددی آيت مقصود فرق بيانول دی د بيع او ربوٰ خو ورسره دا هم معلومه شوه چی بيع جائز ده او سود ناجائز دے ۔نو دی اعتبار سره دا ظاهر دے ۔

دظاهر حکم: پدی باندی عمل واجب دے او پدی سره حدود او کفارات هم ثابت کيدے شی ۔او ظاهر د خاص او عام سره جمع کيدے شی البته د نسخ احتمال پکښی شته ۔خو دغه احتمال هم بے دليله(***ناشی من غير دليل***) دے دی وجے ددی اعتبار نه وی ۔

نص: هغه کلام دے چی د مقصود دپاره راوړے شی خواه خاص وی او که عام۔لکه: **و احل الله البيع وحرم الربوٰ** داکلام د تجارت او

سود مابین فرق دپاره راغلے دے نو دی معنیٰ په اعتبار سره دا ایة نص دے۔

دنص حکم: چی کومه خبره د نص نه فهم شی په هغې عمل واجب دے خوا خاص وی که عام ۔البته پدی کښی هم د نسخ،تاویل او تخصیص احتمال وی خو دغه احتمال هم بے دلیله(ناشی من غیر دلیل) دے دی وجے ددی اعتبار نه وی ۔

تشریح: نص د ظاهر نه زیات واضح وی ځکه چی دے مقصود د کلام وی دی وجے نه بوقت تعارض به نص لره ترجیح ورکولے شی ۔لکه:ارشاد پاک دے: **فانکحوا ،ماطاب لکم من النساء مثنیٰ وثلٰثَ ورُباع الایة**۔ددی ایة مقصد دادے چی څلورو پوری نکاح کولو اجازت دے ۔

او بل ځائے ارشاد دے: **واُحل لکم ماوراء ذالکم**۔ددی ظاهر دادے چی محرمات نه علاوه ټولی ښځی حلالی دی هر څومره نکاحونه چی کوے اجازت دے ۔نو دنص او ظاهر تعارض راغے **نص** له به ترجیح ورکولے شی او بیک وخت صرف څلور نکاحونه جائز دی۔

شلم سبق

مفسر: دا هغه کلام دے چی مراد ئی د متکلم د طرفنه په وضاحت راتلو سره داسی واضح شی چی په کښی د تاویل او تخصیص احتمال پاتی

نشی لکه: **فسجد الملٰئکةُ کلهم اجمعون۔**

د مفسر حکم: پدی عمل کول قطعی طورواجب دی پدی کښی د تاویل هیڅ احتمال معتبر ندے۔البته د نبیﷺ د حیات طیبه پوری پدی کښی د نسخ احتمال وو۔

تشریح: بعض الفاظ د خپلے وضع په اعتبار د تاویل یا تخصیص احتمال نه لری ۔لکه:**اعداد۔**

او بعضو کښی ددی دواړو ګنجائش وی داسی الفاظ کله عام وی او کله خاص وی که عام وی نو قید پکښی لګوی چی د تخصیص احتمال ختم شی ۔لکه: **فسجد الملٰئکةُ** عام دے نو **کلهم** قید سره ئی د تخصیص احتمال ختم شو۔

او کله داسی الفاظ مجمل وی چی وضاحت وکړے شی نو د تاویل احتمال ختم شی لکه:**اجمعونَ** فرمائلو سره دا احتمال ختم شو چی سجده به ئی جدا جدا کړی وی او دا متعین شو چی ټولو په یوځائے کړی ده نو دا کلام **مفسر** شو۔

د مفسر حکم: چی په هغے عمل کول قطعی دے واجب العمل دے خوکه د **مفسر او نص** تعارض راغی نو مفسر لره به ترجیح وی ،خو نصوصو کښی داسی قسم تعارض مثال نشتے۔

یویشتم سبق

المحکم: دا هغه کلام دے چی نهایت درجه واضح وی د مفسر نه هم وضاحت کښی زیات وی او پدی کښی د تاویل یا تخصیص یا نسخی قطعًا احتمال نه وی ۔لکه: **ان اللّٰه بکل شیئ علیم ، یا ان اللّٰه لایظلم الناس شیئًا۔** ځکه چی ددی قسم آیتونو تعلق د عقائدو سره دے چی پدی کښی د نسخ بلکل احتمال نه وی ۔

حکم د محکم: پدی باندی عمل واجب دے اواعتقاد لرل پری فرض دی۔

تشریح: کچری عبارت کښی ابدیت همیشګیری باندی دلالت وی ،یا د مضمون تعلق عقائدو یا داصول اخلاق سره وی یا په هغے

کښې څه خبر ورکړے شوے وی نو پدی کښې د نسخ احتمال نه وی ۔

دغه شان د رسول اللهﷺ د تشريف وړلو نه بعد ظاهر ،نص،مفسر ټولو نه د نسخ احتمال ختم شوے دے۔

کچرے د مفسر او محکم مابين تعارض وی نو محکم لره به ترجيح وی لکه:سورة طلاق اية دے:**واشهدوا ذوی عدل منکم** الاية د مفسر دے ددی اية تقاضا داده چی د محدود فی القذف د توبې نه وروستو شهادة قبول شی ځکه چی توبې سره ګناه معاف کيږی۔

او د سورة نور آية دے **ولاتقبلوا لهم شهادة ابدًا** دا آية محکم دے ځکه دی کښې د ابديت قيد دے نو دی لره به ترجيح وی او د توبې نه بعد به هم د محدود فی القذف شهادة مقبول نه وی ۔

دويشتم سبق

مقابلات ددی مذکوره اقسامو

ددی مذکوره قسمونو بالمقابل نور قسمونه دی ۔

۱ ۔**خفی:**هغه لفظ چی معنیٰ ئی ظاهره وی خو د بلے وجهے نه پکښې خفاء راغلی وی ۔لکه:سورةمائده آية دے: **السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما** دا آية د غل په حق کښې ظاهر دے خو د کفن کَخ او جيب تراش په حق کښې خفی دے ۔

سارق هغه غل دے چی د چا محفوظ مال په پټه غلا کړی ،دغلا دا مفهوم د کفن کخ او جيب تراش باره کښې غير واضح دے ۔

نو اوس پدی دواړو د سارق قول کيدے شی او کنه؟ داخبره غير واضحه ده۔ کفن چور کښې د معنیٰ کمے دے او جيب تراش باره کښې زياتے دے۔

اول محفوظ مال نه پټوی ،او دویم غلا نه کوی بلکه د سړی د مخے نه شے په چل ول اخلی۔

د خفی حکم: په لفظ کښې غور وکړے شی چې پوشیدګی ئې لری شی نو که په لفظ کښې د ظآهر معنیٰ نه زیادت اوموندل شی لکه:جیب تراش نو د ظاهر حکم به جاری وی او که په معنیٰ کښې کمے وی لکه کفن چور نو بیا به پری د ظاهر حکم نه لګی ۔

درویشتم سبق

مشکل او حکم د مشکل

مشکل هغه لفظ دے چې پوشیدګئ او خفاء کښې د خفی نه تیز وی یعنی کافی غور وفکر نه بغیر پوشیدګی نه لری کیګی ۔لکه: یو سړے قسم اوخری چې سالن به نه خوری۔سالن هغه شے دے چې ډوډئ ورسره ازاده تیریګی او رنګینه شی ورسره ،حدیث کښې دی **نعم الادام الخلُّ** سرکه بهترین سالن دے ۔

غوخه ،اګئ او پنیر کښې شک دے چې دا سالن دے او کنه؟ ځکه چې ډوډئ پدی باندی هم ازاده تیریګی او رنګینه کیږی پری خو نوړئ پری لوندیګی نه۔نو سالن دے خو لاوڼ ندے د ادام خپله ترجمه لاوڼ دے چې ډوډئ پکښې خوشتیګی۔

دمشکل یو ثونور مثالونه

داآیة **فاتوا حرثکم انیٰ شئتم** پدی کښې انیٰ مشترک دے ۔په معنیٰ د **اَینَ** هم رازی د **متیٰ** هم او د **کیف** هم ددی وجهے نه په مراد کښې شک او اشکال دے۔

بل آیة وِاِن کُنتم جُنُبًا فاطّهّرواغسل جنابت کښې د مبالغے حکم دے۔ او په دے اتفاق دے چې آیة ظاهر بدن په حق کښې واضح دے

،او باطن وينځل ساقط دی خو د خُلے او پوزے په حق کښې تردد دے ځکه دا من وجهٍ ظاهر دی لکه:چې څه شے خلے ته ددنه شی نو روژه نه ماتيګی او من وجهٍ باطن دی لکه:چې توکاڼو(لاړو)تيرولو سره هم روژه نه ماتيګی ۔

نو غسل جنابت کښې مضمضه او استنشاق فرض دے کنه دی کښې اشکال دے ۔

حکم د مشکل:ددی مراد غور او خوض نه بغير نشی واضح کيدے ،لهذا غور وفکر کول واجب دی دے پورې چې معنیٰ مراده واضح شی ۔پس ادام کښې غور وخوض دادے چې اګئ او پنير سره ډوډئ رنګينه کيګی نه،نو دا څيزونو خوړلو سره به قسم نه ماتيګی ۔

خو امام **محمدؒ** د عرف اعتبار کوی کوم شی سره چې ډوډئ خوړلے شی ،نو که چا مذکوره اشياء سره ډوډئ اوخوړه نو قسم ئی مات شو،او هم دا مفتیٰ بهٖ قول دے ۔ (شامی) او **حرث** فصل ته پټی ته وائی دی معنیٰ کښې غور کولو نه معلومه شوه چې اَنّٰی په معنیٰ د کيف سره دے د آينَ ندے ځکه چې روستو محل د حرث ندے بلکه د فرث(ګندګئ) دے ۔

او غسل جنابت کښې چې د مبالغے کومه معنیٰ د **فاطهرو** نه فهم شوے ده دی کښې اختلاف دے :

امام مالکؒدلک د بدن اغستے ده او دلک ته فرض وائی ۔او **احناف** مضمضه او استنشاق ته فرض وائی ۔

څلوریشتم سبق

المجمل وحکمه

مجمل: (مبهم او غیر واضح)هغه لفظ دے چی پوشیدګئ او پټوالی کښې د مشکل نه ډیر زیات وی (ډیر غیر واضح) وی پدی وجه چی پدی کښی ډیر احتمالات وی په دی کښی دومره ډیر پټوالے وی چی د متکلم او شارع د بیان(وضاحت(نه بغیر خفاء نه لرے کیږی هر څومره که غور وکړے شی خو فائده نه ورکئ۔لکه:**وحرم الربوٰ** ۔

تشریح:ظاهره ده چی د خرید وفروخت معنیٰ خو د ګټے او زیادتی مراد ده او بیع جائز ده نو دلته د **الربوٰ** نه کومه ګټه او نفع مراد ده دا په غور سره نه معلومیګی ،پخپله د شارع دطرفنه وضاحت ضروری دے ۔

نو **شارع** د اشیاء ستّه په ذریعه په حدیث پاک سره وضاحت وکو۔

حکم دمجمل:پدی باندی عمل ممکن ندے تر کومے چی شارع پخپله وضاحت نه وی کړے،لهذا ددی د برحق کیدو اعتقاد لازمی دے او دبیان انتظار به کولے شی چی د شارع د طرفنه بیان راشی بیا په پری عمل کولے شی ۔

پنځویشتم سبق

متشابه اود متشابه حکم

متشابه هغه لفظ دے چی په خفاء کښی د مجمل نه هم زیات وی ،او د هغه مراد معلومول ممکن نه وی ،په هیڅ حال د وضاحت صورت نه وی ۔

متشابهات په دوه قسمه دی :

۱۔هغه چی معنیٰ ئی بلکل معلومه نه وی لکه:حروف مقطعات(الم،المص وغیره)

۲۔هغه چی معنیٰ ئی ازروئے لغة معلومه وی خو معنیٰ مراده معلومولو ئی هیڅ صورت نه وی ،لکه: د **الله** پاک صفات متشابهات(د **الله** لاس،د **الله** مخ،د **الله** پنډۍ وغیره)ددی صفاتو ظاهری کیفیت مراد کولے نشی او حقیقی معنیٰ پیژندلو او کیفیت معلومولو هیڅ لار نشته۔

حکم د متشابهہ:دادے چی څه مراد برحق وی په هغے به ئی ایمان لرے او معنیٰ معلومولو نه به منع کولے شی دعقل نه به کار نه اخلی۔

مثلًا دا ایمان به لری چی داصفات د **الله** پاک دپاره ثابت دی پاتی داخبره چی دغه صفات څنګه دی ،دا **الله** تعالیٰ ته حواله کولے شی چی صرف **الله** پاک پدی عالم دے۔

شپږیشتم سبق

خلورم تقسیم د دلالت په اعتبار سره

په حکم باندی دلالت کولو په اعتبار د لفظ څلور قسمه دی ۔

۱۔عبارة النص ۲۔اشارة النص ۳۔دلالة النص ٤۔اقتضاء النص: ددی نه مراد عین نص نه دلیل نیولو اقسام مراد دی هغه نص ندے مراد کوم چی سوم قسم کښی تیر شو ظاهر ،نص ،مفسر وغیره۔

۱۔عبارة النص :داهغه دے کوم شی دپاره چی کلام راوړے شوے وی او کوم شے چی دعبارت مقصود وی۔سورة بقره کښی د **الله** پاک ارشاد دے:**وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن** ددی آیة مقصود د

پۀ ورکونکو زنانؤ دپاره وجوب د نفقې بیان دے نو دی خبره کښې دا آیة عبارة النص دے۔

تشریح: دپۀ ورکونکے مور نفقه که چرے پدی وجه واجب وی چی دا د بچی د پلار ښېر ده نو ظاهره ده چی د ښځې نفقه واجب وی ۔

او که وجوب په دی وجه وی چی داپۀ ورکوی نو بیا دامور مطلقه ده۔او دنفقې وجوب د محض پیو ورکولو په وجه دے۔

حکم دعبارة النص: چه کوم حکم پدی ثابت وی په هغې قطعی طور عمل واجب دے۔

اوویشتم سبق

اشارة النص اودهغې حکم

اشارة النص هغه خبره ده چی د نص نه ثابت وی خو کلام د هغې دپاره نه وی راوړلے شوے نو هغې خبرے فهم یو دم نه رازی بلکه د هغې دفهم دپاره د غور خوض او فکر ضرورت دے لکه: **وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن** د المولود له کښې دی طرفته اشاره ده چی نسب دپلار نه ثابت وی خو دادعبارة مقصود هم ندے او کلام دی دپاره هم ندے راوړے شوے ۔او اوّل وهلت کښې داخبره زر فهم ته هم نه رازی پس دی کښې دا آیة اشارة النص شو۔

تشریح: دآیة نه داخبره داسی فهم شوه چی مولود (پیدا شوے)اسم مفعول دے او لهٔ لام د اختصاص دپاره دے ۔یعنی خاص هغه شخص چا دپاره چی بچے زیګولے شوے وی ،نو معلومه شوه چی پلار دی نسبت سره خاص کړے شوے دے۔دی وجهے نه د بچی نسب به دپلار نه ثابت وی۔

حکم داشارة النص:چې کومه خبره پدی باندی ثابته شی په هغې قطعی طور عمل واجب دے ۔خو دتعارض په وخت به عبارة النص لره ترجیح وی ۔ځکه چې عبارة النص مقصود وی او دا مقصود دکلام نه وی ۔

تشریح:یو طویل حدیث کښې دی چې ښځه نیمه زمانه ناسته وی نه مونځ کوی او نه روژه نیسی دینه اشارة داخبره معلومه شوه چې د حیض اکثر مدة پنځلس ورزی دی او هم دا مذهب د **امام شافعیؒ** دے۔

خو بل حدیث دے چې کم نه کم حیض درے ورزے دے او زیات نه زیات لس ورزی ،دا حدیث د شپږو صحابؤ نه مروی دے اگر چې د هر یو په سند کښې کلام دے خو مجموعه **حسن لغیره** دے او دا عبارة النص دے پس دی لره به ترجیح وی او دا د**حنفیةؒ** مسلک دے۔

اتویشتم سبق

دلالة النص اود هغې حکم

دلالة النص:دا هغه خبره ده چې عبارة مذکوره د حکم د علت نه فهم شی او د اجتهاد او استنباط په طور نوی فهم شوی بلکه لغةً د ژبې په ذریعه سره فهم شی۔لکه:**فلا تقُل لهما اُفٍّ** یعنی مور او پلار ته هوں هم مه کوئ نو وخل او کنځل د مور او پلار حرام شو دا خبره ددی آیة نه معلومه شوه ځکه چې د هوں وئیلو د ممانعت وجه او علت تکلیف رسول دی او داعلت هر صاحب زبان پیژنی نو هم ددی علت په وجه د وهلو او کنځلو حرمت ثابت شو۔

تشریح:دلالة النص اوقیاس کښې فرق داے چې دلالة النص کښې علة د ژبې دوچې نه معلوم شي او قیاس کښې د اجتهاد دوجې نه ۔مجتهد غور فکر سره علت معلوم کړي صرف اهل زبان د هغې ادراک نشي کولے۔دی وجې نه قیاس ظني دے او دلالة النص قطعي دے۔

حکم ددلالة النص: کومه خبره چې ددلالة النص نه ثابته شي په هغې باندی قطعی طور عمل واجب دے او دلالة النص کښې د مذکور حکم علت عام وی نو دلالة النص سره ثابت شوے حکم به هم عام وی ۔

تشریح: لکه چې د مذکور حکم علت د والدینو نه تکلیف دفعه کول دی او دا علت عام دے پس چرته چې هم دا علت موندل شي نو هغه کار به حرام وی لکه د والدینو وهل یا کنځل کول والدینو نه بطور کرایه خدمت اخستل والدین دخپل قرض په وجه قید کول د والدینو نه قصاص اخستل او په قصاص کښې قتلول وغیره دا ټول کارونه حرام دی ۔

یوکم دیرشم

اقتضاء النص اودهغې حکم

د اقتضاء معنٰی ده غوښتل او غوښتونکی ته مقتضِی وائی او غوښتلی شوی شي ته مقتضٰی وائی یعنی سوا کړے شوے خبر نو اقتضاء النص په نص کښې دزیادتی نوم دے داسی زیادت چې دهغې نه بغیر کلام نه ټهیک کیږی او د هغې نه بغیر په نص باندی عمل هم ممکن نه وی ۔

لکه:خاوند خځې ته وائی چې انتِ طالقٌ نو داخبره دطلاق ثبوت غواړی چې طلاق دی ثابت شي ۔

او په حدیث کښې دی چې رُفِعَ عن امتی الخطأُ والنسیانُ او حال دادے چې د امت نه هیر او خطا رازی نو په حدیث کښې حکم لفظ سوا کول ضروری دی یعنې د خطائی او دهیر ګناه تری پورته کړے شوے دے۔

او تحریر رقبةٍ سره دمملوکة لفظ سوا کول ضروری دی ۔

تشریح: کله کله دنص په اقتضاء سره دبل نص ضرورت وی چې مقدر اومنلے شی ۔لکه یو سړے د اذان نه بعد د مسجد نه اووتلو نو ابوهریره رضی **الله** عنهُ اُفرمائیل اما هذا فقد عصیٰ اباالقاسمِ ﷺ (رواه مسلم)۔او حال دادے چې داسې حدیث نشته چې په هغے کښې حضور ﷺ خروج منع کړے وی ،نو ددی قول په اقتضاء سره به داسې نص مقدر اومنلے شی ۔

یا لکه حضرت عمار ابن یاسر رضی **الله** عنهُ فرمائی من صام الیوم الذی یشک فیه فقد عصیٰ اباالقاسم ﷺ (رواه مسلم)

دلته هم داسې نص موجود نشته چې په هغې سره حضور ﷺ د یوم الشک د روژے نه منع کړې وی خو ددی قول په اقتضاء سره به داسې نص مقدر منل ضروری وی ۔

حکم داقتضاء النص: دلته مقتضیٰ ضرورةً ثابت وی نو ددی وجے نه به بقدر ضرورت مقدر منلے شی ،نو انت طالق کښې د دریو طلاقو نیت صحیح ندے ۔

تشریح: طالق صیغه د صفت ده یعنې اسم فاعل دے او مشتق په مشتق منه باندی دلالت کوی لکه چې فعل په مصدر دلالت کوی نو د طالقٌ په تقاضا سره به دلته طلاقًا منلے کیګی ،نو د دریو طلاقو

نیت صحیح ندے ځکه ضرورت په یو طلاق سره پوره شو۔ د انت طالق د صحت دپاره یو طلاق منل کافی دی ۔

دیرشم سبق

د شلو اقسامو د متعلقاتو بیان

د کتاب **الله** او سنّت رسولﷺ د شلو اقسامو نه فراغت وشو اوس دهغې دمتعلقاتو تذکره شروع کوؤ۔

دامر اونهی بیان دخاص په اقسامو کښې امر اونهی هم دی،دامر او نهی صیغې خاص دی یو خاص معنیٰ دپاره وضع شوی دی چې طلب فعل دے یا طلب عدم فعل دے ۔

امر:د امر لغوی معنیٰ ده"دپورته کس بل ته وئیل چې دا کار وکه"او اصطلاح کښې امر په بل باندی کار لازم کول ،یعنیٰ جزم سره دچا نه دیو کار طلب کول لکه: ارشاد پاک دے:**واقیموا الصلوة وأتوا الزکوة۔**

تشریح: نصوصو کښې کله حکم د امر صیغې سره ورکولے شی لکه: **اقیموا الدین**(شوریٰ)۔

او کله جمله خبریه وی خو انشاء لره متضمن وی یعنی مقصود تری مطالبه و ی۔لکه: **لا ایمان لمن لاامانة له** مقصود دادے چې امانتداری اختیار که!

دامر حکم:امر مطلق یعنی د قرینې د وجوب یا عدم وجوب نه خالی وی نو دد ے مقتضیٰ وجوب وی ۔هاں که قرینه او نخه د دی خلاف وی لکه اباحة یا استحباب وغیره نو بیا به حکم هم هغه وی کوم چې د قرینې دے۔

تشریح:امر کښې اصل وجوب دے او که قرینه موجوده شی نو بیا دجواز او اباحة دپاره وی لکه: **کُلوا واشرَبوا** خوراک او څښاک طبعی افعال دی ددینه انسان مستغنی نشی کیدے ددی واجب کول بے معنیٰ دی ۔داددی خبری قرینه ده چی دلته امر د اباحة دپاره دے۔

نهی: منع کول ،لغةً ځان پورته ګڼړل او چا ته ویئل چی دا کار مه کوه۔اصطلاحًا په چا کار نه کول لازم کول۔

یعنی نهی هغه خاص لفظ دے چی د هغے په ذریعه څوک جزم سره دیو کار نه منع وکړی لکه: **ولاتقربوا الزنا** یعنی د زنا خواته هم مه زئی۔

تشریح:ممانعة دپاره کله کله صیغه دنهی استعمال شی لکه:**وذروا البیع** یعنی بعد اذان خرید وفروخت پریږدئ ۔

کله لفظ دنهی سره ممانعة شوے وی لکه:**وینهٰی عن الفحشاء والمنکر** یعنیٰ **الله** تعالیٰ د ښکاره بدئ نه او مطلق بدئ نه منع کوی۔

کله د تحریم لفظ استعمال شی لکه:**حرمت علیکم المیتة**۔

کله د حلت نفی کولے شی لکه:**ولاتحل لکم ان تاخذوا مما اٰتیتموهن شیئًا**۔

حکم دنهی: دمطلق نهی مقتضیٰ لازمًا باز ګرزیدل دی۔ هاں که قرینه او نخه د دی خلاف وی له اباحت یا استحباب وغیره نو بیا به حکم هم هغه وی کوم چی د قرینے دے۔

تشریح:دنهی اصل حکم حرمت دے خو که قرینه وی نو بیا د کراهة دپاره هم وی لکه: **اذا نودی للصلوة من یوم الجمعة**

فاسعوا الی ذکر اللّٰہ وذروا البیع۔ دلته نهی دکراہة د پاره ده ۔او قرینه داده چی ممانعة د یوے باهرنۍ خبری دوجے نه دے او هغه د جمعے مانځه له تلو کښې خلل واقع کیدل دی۔نفس بیع کښې خرابی نشته۔

کله نفی ارشادی وی یعنی شفقت په طور ممانعت کولے شی لکه: **ولا تسئلوا عن اشیاء ان تبدلکم تسؤکم** (دداسی څیزونو تپوس مه کوئ که چرته هغه تاسو ته ښکاره کړے شی تو به پریشانه کړی)دلته نهی ارشادی ده خلق د پریشانۍ نه بچ کول دی۔

یو دیرشم سبق

ما یتعلق بالامر د امر باره کښې څه خبرے

۔کله چی د یو کار حکم وکړے شی نو یوه پیره کار کولو سره تابعداری د امر موجود شی بار بار کول د امر مقتضیٰ نده۔**مثلًا** اویئلے شی چی اوبه راکه نو یوه پیره اوبه ورکولو سره به دحکم تعمیل وشی ۔

نو **صلُّوا** چی مونځ وکړ نو مطلب دا دے چی یوه پیره مونځ وکړ۔

سوال: چی کله امر تقاضا د تکرار نکوی نو بیا په عباداتو کښي تکرار ولی دے؟

جواب: دا تکرار د اسبابو او اوقاتو د تکرار دوجے نه دے **مثلًا** دوجوب صلوٰۃ سبب وخت دے لکه چی د ماسپخین وخت شی نو امر به متوجه شی چی د ماسپخین مونځ وکړ ددی امر سره به وجوب وی۔

۔د امر په ذریعه د واجب دوه قسمه دی۔

ا۔ادا۔ بعینه امر سره واجب کیدونکے شے حواله کول۔

ب۔قضا۔امر سره د واجب شوئ شي مثل حواله کول۔

بیا **ادا په دوه قسمه ده ۔ادا کامله،ادا قاصره**

۱۔ادائ کامل بعینه واجب کامل صفت سره حواله کول:لکه وخت باندی باجماعت مونځ ادا کول۔

حکم: ادائ کامل سره ذمه داری په احسن وجهے سره پوره کیګی۔

۲۔ادائ قاصر:بعینه واجب په ناقص صفت سره ادا کول لکه: سورة فاتحه بغیر او تعدیل ارکان بغیر مونځ کول۔

حکم: کچرے په مثل سره د صفت د نقصان کمے پوره کیدے شی نو کولے به شي ورنه نقصان حکم به ساقط شي او ګناه به باقي شي۔

تشریح: مثلًا سورة فاتحه تری هیره شوه نو سجده سهوه سره به کمے پوره شی دادډی شرعًا مثل دے ،او که تعدیل ارکان نه بغیر مونځ وکړی نو مثل سره دهغۓ کمے پوره کول ممکن ندی ځکه چی شرعًا ددی مثل نشته پس کراہة تحریمی سره به دهغه مونځ وشی او داسی مونځ کونکے به ګناہګار وی۔

قضاء په دوه قسمه ده قضاء کامل او قضاء قاصر

قضاء کامل:هغه مثل حواله کول چی صورة او معنیً د واجب پشان وی لکه:د فوت شوی مونځ قضاء۔

قضاء قاصر:هغه مثل حواله کول چی صرف معنیً د واجب پشان وی لکه:د قضاء مونځ بعد الموت فدیه ورکول۔

فائده : عباداتو کښی اصل اداء ده کامل وی که ناقص۔او چی ادا ممکن نه وی نو قضاء طرفته رجوع کیګی۔

فائده: قضاء کښې اصل قضاء کامل ده او چې په کامل عمل ممکن نه وی نو قاصر طرفته رجوع کيږي۔

فائده: د کوم شی چې مثل بلکل نه وی نه مثل صورةً نه معنیً نو په هغې کښې قضاء واجب نده دهغې حکم د آخرت په حواله دے۔لکه:منافع ضائع کولو په صورة کښي ضمان واجب ندے ۔

تشريح: چا د بل غلام غصب کړو او روغه مياشت خدمت واغستو ،يا مکان ئی غصب کړو او مياشت پکښې اؤسيدو بيا ئی غصب کرده شے مالک ته حواله کړو نو غاصب باندی د منافع ضمان واجب ندے ځکه چې د مثل په ذريعه ئی ضمان ممکن ندے۔ځکه څه شے د منفعت برابر نشته په دواړو کښې نه منفعت صوری شته او نه معنوی پس معامله به آخرت ته حواله شی۔

فائده: کله چې يو شے شريعة مماثل مقرر کړے وی او حال دادے چې دواړو کښې نه صورة مماثلة وی او نه معنیً نو دی ته مماثل شرعی وئيلے شی لکه: نهايت بوډا سړی په حق کښې د روژو فديه د روژو مثل دے۔

۳۔د وخت دقيد يا عدم قيد په اعتبار د مامور به درے قسمه دی

ا۔وخت سره غير مقيد لکه: زکوٰة ،حج،صدقه فطر وغيره۔

حکم: پدی کښې د مامور به مطالبه فورًا نه وی د تاخير گنجائش وی پدی شرط چې تاخير سره پوره زندگئ کښې عبادت پاتی نشی ۔البته اول فرصة کښې اداکول مستحب دی ۔

ب۔وخت سره مقيد : ديته موقت هم وائی ددی درے قسمه دی ۔

الف۔چی وخت د عبادة د پاره ظرف وی لکه مونځ ۔د ظرف معنیٰ دا چی عبادت ټول وخت نه راګیروی بلکه د عبادت نه بعد هم وخت بچ وی۔

احکام:۱۔پوره وخت په عبادت کښی مشغولول ضروری ندی ۔

۲۔په یو وخت کښی کچرے یو عبادت واجب وی نو دد غے جنس بل عبادت په دغه وخت کښی واجب کیدے شی دغه شان په دغه وخت کښی ددغه جنس بل عبادت هم صحیح دے۔دواړو کښی تضاد یا خلاف نشته۔لکه:یو سړے د ظهر وخت کښی د مونځ نذر وکړی نو صحیح دے او په ظهر وخت کښی به دواړه مونځونه وکړی۔

دغه شان که یو سړے د ظهر وخت کښی بل مونځ کوی نو صحیح دے۔اګر چی د ظهر مونځ قضاء کولو ګناه به وی۔

۳۔او د مامور به ادائګۍ دپاره متعین نیت ضروری دے یعنی د ظهر د مانځه نیت ضروری دے تعین نیت نه بغیر که پوره وخت ئی مونځ کولو نو بیا به هم ظهر ادا نوی دغه مونځ به نفل شی اګر که د مونځ وخت تنګ شی یعنی صرف د ظهر دفرضو وخت پاتی شی بیا هم تعین نیت ضروری دے۔

ب: چی وخت د عبادت دپاره معیار وی لکه روژه یعنی عبادت پوره وخت راګیر کړے دے یو جزء تری خالی نه وی ۔

احکام:۱۔کچرے یو عبادت دپاره شریعت د وخت تعین کړے وی نو دغه وخت کښی بل عبادت واجب کیدے نشی ۔

۲۔نه په دغه وخت بل عبادت ادا کیدے شی ۔

۳۔او دتعین شرط به هم ختم شی ۔لکه چی شریعة رمضان لره د فرض روژے دپاره متعین کړی ده۔نو وس نه خو په رمضان کښې د نورو روژو نذر کوے شی او نه بله روژه نیولے شی ۔او خاص د رمضان د روژے نیت کولو ضرورت هم نشته مطلق نیت سره به هم د رمضان روژه صحیح شی ۔

٤۔کچرے حکم کؤونکے حکیم وی نو مامور بهٖ کښی حسن موجودیدل ضروری دی یعنی **الله** تعالیٰ حکیم دے پس هغوی چی کوم احکام نازل کړی دی په هغے کښی حسن ضروری امر دے۔

بیا مامور بهٖ د حسن په اعتبار سره په دوه قسمه ده

۱۔حسن لذاتهٖ یعنی بذات خود خکلے خبره لکه: **الله** تعالیٰ باندی ایمان راوړل ،د انعام کوؤنکی احسان منل ،انصاف،او مونځ،او دغه شان نور عبادات۔

حکم: چی کله دداسی مامور بهٖ د ادائگئ وجوب راشی چی حسن لذاتهٖ وی نو دهغے د ادائگئ نه بغیر ذمه نه فارغیګی۔ او دا خبره هغه حکمونو کښی ده چی د معاف کیدو احتمال نه لری یعنی ختمیږی نه۔لکه: **الله** تعالیٰ باندی ایمان لرل په هرحال ضروری دے حالت اکراه وی یا جبر دا حکم ساقط کیګی نه۔

او هغه احکام چی د معاف کیدو احتمال لری هغه ادائگئ سره هم ختمیګی او حکم ورکونکی معافئ سره هم ۔

تشریح:مثلاً اول وخت کښی مونځ واجب شو او ادائے کړو نو ختم شو ،او که آخر کښی بنده پاګل شو یا زنانه باندی حیض یا نفاس شروع شو نو مونځ معاف شو ځکه داسی اعذارو کښی مونځ معاف کیګی۔

او که څه وجه باندی د مونځ وخت تنګ شی یا اوبه یا لباس موجود نه وی نو معاف کیګی نه۔

ب۔حسن لغیرہٖ: یعنی په هغې کښې خپله ذاتی حسن نه وی خو بل امر حسن په وجه پکښې حسن پیدا شوے وی لکه:د جمعې د مونځ دپاره سعی کول(تلل) او د مونځ دپاره وضوء کول ۔

په تللو(سعی) کښې خوبی د مونځ د جمعې د وجې ده او په وضوء کښې خوبی د مونځ دوجې ده۔

حکم:کچرے هغه خبره چی د هغې په وجهے په مامور بهٖ کښې حسن پیدا شوے وی ختم شی نو مامور بهٖ به هم ختم شی ۔

پس په کومو خلقو چی جمعه واجب نده نو سعی پری هم واجب نده۔

فائده :حدود ،قصاص او جهاد هم دی قسم ثانی ته نزدے دی۔ځکه چی حدود یعنی اسلامی سزاګانو کښ خوبی پدی وجه پیدا شوه چی دی د ګناهونو نه لری کوؤنکی دی ۔او په جهاد کښې خوبی پدی وجه هم ده چی دهغې سره دقتل سلسله بنده شی او جهاد کښې خوبی پدی دوؤ وجهو سره هم ده۔

۱۔پدی سره دکافرانو فتنه کمزوری شی ۔

۲۔پدی سره د **الله** کلمه بلنده شی او دین خور شی ۔

دوه دیرشم سبق

دنهی باره کښې څه خبری

۱۔کچرے ممانعت کؤونکے حکیم وی نو منهی عنهُ کښې ناکاره والے ضروری دے،پس **الله** تعالی حکیم دے نو هغه چی د کومو خبرو نه

منع فرفائيلے ده هغه ناكاره خبرے دى او دناكار والى د نوعيت په اعتبار سره د منهى عنهُ دوه قسمه دى ـ

الف۔قبيح لذاته: هغه شے چى بذات خود ناكاره وى ددى دوه قسمه دى ـ

١ ـ قبيح لذاته وضعًا: هغه امر چى دهغے وضع او بناوټ او ساخت او جوړخ ناكاره وى يعنى عقل د هغے د ناكاره والى احساس كولے شى لكه: كفر او شرک د وضع په اعتبار سره قبيح دى ځكه چى دواړه د محسن ناشكرى ده او ددى قبيح كيدل عقلى دى ـ

٢ ـ قبيح لذاته شرعًا: هغه امر چى د هغے ناكاره والے شريعة خودلے وى اگر چى د هغے د ناكاره والى فهم عقل نشى كولے لكه: انسان خرڅول ځكه چى ازاد انسان دخريد وفروخت محل ندے۔

ب۔قبيح لغيره: هغه خبره چى خپله پكښى ناكاره والے نه وى مگر د يو ناكاره خبرے په وجه په هغے كښى ناكاره والے او خرابى راغلى وى ـ بيا ددى دوه صورتونه دى ـ **قبيح لغيره وصفًا،مجاورًا**

١ ـ قبيح لغيره وصفًا: هغه امر چى خرابى پكښى د ناروا خبرے صفت دوجهے نه لازم شوے وى ـ لكه د عيد الاضحىٰ په ورځ روژه نيول دلته روژه فى نفسهٖ عبادت دے خو دلته د **الله** تعالىٰ د ميلمستيا نه مخ اړول رازى او دا داسى خبره ده چى ددغے ورځ د وژے نه جدا كيدے نشى نو دا ځكه قبيح دے۔

٢ ـ قبيح لغيره مجاورًا: هغه امر چى خرابى پكښى دگاونډى د وجے نه راغلى وى ـ لكه خريد وفروخت كول بعد اذان جمعه دا

دبیع وصف لازم ندے بلکه جدا کیدے هم شی ـ مثلًا د جمعے مانځه له په لاره روان وی او بیع کوی او سعی کښې خلل نه رازی۔

۱ـدکوم فعل نه چی نهی راغلی وی دهغے دوه قسمه دی ـ

۱ـدفعل حسی ممانعت:یعنی هغه فعل چی د هغے په صورة او مفهوم کښې شریعة تبدیلی نوی کړی۔لکه: زنا،شراب،دروغ،ظلم وغیره ددی ممانعت د شریعة نه اول هم کیدو او شریعة پکښې تبدیلی نده کړی۔

حکم: پدی قسم کښ بعینه کارونو باندی نهی رازی ځکه چی دد ے ذات خراب دے نو دا قطعًا مشروع نشی کیدے۔

۲ـد افعال شرعیه ممانعت:هغه افعال چی شریعت راتلو نه مخکښې موجود وی خو شریعة په هغے کښې څه تبدیلی کړی وی ،او یا دشریعة راتلو نه روستو موجود شوی وی ـلکه:د لو ے اختر په ورځ د روژ ے بندیز یا په اوقاتِ مکروہه کښې د مونځ بندیز۔

دروژ ے خپله معنیٰ بندیز دے خو شریعة پکښې د یو څو څیزونو زیادة وکو۔

د صلوٰة خپله معنیٰ دعا ده خو شریعة پکښې د یو څو څیزونو زیادة وکو۔دی وجهے نه روژه او صلوٰة د افعال شرعیه نه دی ـ

حکم:دی قسم کښې ممانعت د هغےڅیز وی کوم څیز طرفته چی نهی مخامخ شوی وی یعنی اصل روژه او صلوٰة ممنوع ندی دا خو حسن لذاته دی خو د غیر د وجهے نه خرابی ده او دغه خرابی د **الله** پاک د میلمستیا نه ډډه کول دی یا د نمر عبادة کونکو سره یوشانوالے رازی۔نو دی وجهے نه ددی افعالو کونکی د حرام لغیره ارتکاب کونکی شو او د حرام لعینه مرتکب نه شو۔

فائده: د یو فعل حرام کیدل په هغې باندی د حکم ترتب کښی خلاف او تضاد نشته ،لکه:حالت حیض کښی طلاق ممنوع دی خو طلاق به واقع کیږی او درے طلاقه په یو ځائې ممنوع دی خو بیا هم واقع کیږی۔

درے دیرشم سبق

د مطلق او مقید بیان د خاص په اقسامو کښی مطلق او مقید دی ۔

تشریح: خاص کله مطلق یعنی بغیر د قید نه ذکر شی یعنی د یو شی صرف د هغې دپاره موضوع له لفظ ذکر شی لکه:کتاب ،رجل،وغیره۔ددی سره صفت وغیره ذکر نشی نو ددی اطلاق به په پوره جنس باندی وی

او کله یو لفظ د یو صفت یا شرط یا زمانه یا عدد وغیره

سره مقید شی نو بیا ترینه پوره جنس مراد نه وی ۔لکه:کفاره د قتل خطا کښی رقبه مومنه ده په دی وخت کښی دغه خاص مقید دے۔

مطلق: هغه خاص دے چی په نفس ذات باندی دلالت کوی په یو خاص صفت باندی د هغۀ دلالت نه وی لکه: د قسم کفاره کښی تحریر رقبة مطلق دے ۔

حکم: مطلق به په خپل اطلاق ازاد والی باندی قائم وی یعنی خبر واحد یا قیاس په ذریعه به د څه شی سره تړلے (قید) کولے نشی ۔

مقید: چی د څه شی قید پکښی وی څه شی پوری تړلے شوے وی ۔دا هغه خاص دے چی په یو ذات باندی سره د خپلو صفاتو دلالت

کوی لکه: سورة نساء کښې د قتل خطا په کفاره کښې **فتحرير رقبةٍ مؤمنةٍ** مقيد دے۔

حکم: مقيد باندی د قيد دلحاظ کولو سره عمل کول واجب

دی نو کفاره دقتل کښې مطلق غلام ازادول صحيح ندی بلکه مسلمان غلام ازادول ضروری دی ۔

مطلق په مقيد باندی د حمل کولو او نه حمل کولو تفصيل دادے چې کچرے يو لفظ په يو نص کښې مطلق او بل کښې مقيد راشی او ددواړو تعلق د حکم د سبب سره وی نو **احنافو** په نزد باندی مطلق به مقيد باندی نشی حمل کولے۔او که ددواړو تعلق د حکم سره وی او حکم او سبب يو وی نو بالاتفاق به محمول کولے شی ۔لکه: يو نص کښې **الدم** مطلق راغلے دے او بل کښې مقيد دے **مسفوح** سره نو اول کښې به هم مسفوح مراد وی ۔

او که حکم او سبب دواړو مختلف وی نو بالاتفاق به نشی حمل کولے۔لکه:**فاقطعوا ايديَهما** مطلق دے او آية وضو کښې د الی المرافق قيد سره مقيد دے ۔

او که سبب يو وی او حکم مختلف وی نو هم به بالاتفاق محمول کولے نشی لکه: آية د تيمم کښې ايديهم مطلق دے او په وضو کښې مقيد دے دلته جمهورو په تيمم کښې د الی المرافق قيد په حديث سره سوا کړے دے۔

او که حکم يو وی سبب مختلف وی نو احنافو په نزد نشی محمول کولے لکه کفاره **دظهار او يمين** کښې رقبة مطلقه ده او کفاره قتل کښې رقبة مقيده ده دلته عند الاحناف مقيد به مقيد وی او مطلق به مطلق۔

او نور فقهاء وائي چې دلته به مطلق مقيد کولے شي نو د هغوی په نزد په کفاره ظهار او يمين کښې هم مسلمان غلام ازادول ضروري دي۔

څلور ديرشم سبق

حقيقت او مجاز باره کښې څو خبرې

ړومبۍ خبره: څومره چې کيدے شي نو حقيقي معنیٰ باندې عمل کيدے شي نو مجازی معنیٰ به معتبر نوی ځکه چې مجازی معنیٰ مستعاره وی يعنی غوښتلې شوی وی او مستعار د اصل سره د ټکراؤ طاقت نه لری مزاحم نشی کيدے۔ لکه: سورة مائده کښې دی۔

ولکن يؤاخذکم بما عقدتم الأيمانَ (يعنی **الله** نيول په هغې باندې کوی چې تاسو کلک قسمونه اُخرئ)نو دا آية په هغې قسم باندې محمول دے چې مستحکم کړے شوے وی او هغه صرف منعقده دے نو هم داددې لفظ حقيقي معنیٰ ده عزم او اراده چې يمين غموس او منعقده دواړو ته شامل شی صحيح ندی ځکه چې هغه مجازی معنیٰ ده او مجاز او حقيقت ټکر نشی اغيستے۔

دويمه خبره: دحقيقت درے قسمه دی

الف۔حقيقة متعذره   ب۔حقيقة مهجوره   ج۔حقيقة مستعملة

حقيقة متعذره: دا هغه دے چې په هغې باندې عمل سخت او دشوار وی لکه يو سړے د آم د ونې متعلق اووائي چې دا اونه به نه خورم،يا اووائي چې دا کټوئ به نه خورم نو مراد به د ونې ميوه وی او په کټوئ کښې چې څه وی ۔ځکه چې حقيقي معنیٰ ئې انتهائي دشوار عمل دے۔

حقيقة مهجوره: دا هغه دے چی عمل پری ممکن وی خو عادة یا شرعًا په هغې باندی عمل پریخودے شوی وی ـ لکه: یو سړے قسم اخری چی ستا کور ته به خپه نه کم یا ستا په کور کښې به قدم نه ګدم ،ددی حقیقی معنیٰ صرف خپه کیخودل دی په داسی شان چی باقی حصه د بدن د کور نه بهر وی مګر عادة دا معنیٰ مراد نه وی ،

یا لکه: یو سړے د خپلے خلاف مقدمے دپاره وکیل بالخصومة جوړکړی د وکیل بالخصومة حقیقی معنیٰ د مخالف د هرے خبرے تردید کولو دپاره وکیل جوړول دی خو شرعًا دا خبره جائز نده دا معنیٰ شرعًا مهجوره ده او وکالت به مطلق جواب باندی محمول وی وکیل دپاره د اقرار او انکار دواړو اجازت دے ـ

حقيقة مستعملة: دا هغه دے چی استعمال ئې عام وی او اکثر الفاظ په خپله معنیٰ حقیقی کښې استعمال وی ـ

د دریواړو قسمونو احکام: ړومبو دوؤ قسمونو کښې به بالاتفاق مجازی معنیٰ مراد وی ،ونه که میوه داره وی نو میوه به مراد وی او که میوه داره نوی قیمت به مراد وی ـ او که کټوئ کښې څه پراته وی هغه به مراد وی ،او قدم نه به مطلق داخلیدل مراد وی په هر شان چی وی ـ

او دویم قسم کښې که چرته د لفظ مجازی معنیٰ رواج نه وی نو بالاتفاق به په حقیقی معنیٰ باندی عمل وی ـ

او که مجازی معنیٰ د حقیقی معنیٰ نه ډیر رواج وو نو بیا هم **امام صاحب** په حقیقی معنیٰ باندی عمل کوی او د **صاحبینو** په نزد عموم مجاز باندی عمل وی ـ

تشریح: د عموم مجاز معنیٰ داده چی ددی مروج معنیٰ نه

علاوه داسی بله معنیٰ مراد واخستلے شی چې حقیقی او مروجه دواړو معانیو ته شامله وی ۔لکه یو سړے قسم اُخری چې غنم به نه خورم نو غنم بعینه خوړل هم متروک ندی نینی خوړلے کیږی۔او زیات استعمال ئې په ډوډۍ کښې دے۔نو دلته به د امام صحب په نزد په نینو خوړلو سره حانث وی او ډوډۍ سره به نوی ،او عند صاحبین ماحصل من الحنطه به عمومی معنیٰ مراد شی په هر صورت کښې به حانث وی ۔نینی وی که ګنګړی وی،که حلویٰ وی،که بسکټ وی که ډوډۍ۔

دویمه خبره:امام صاحب په نزد باندی مجاز صرف په لفظ کښې د حقیقت نائب دے صرف تکلم کښې ،یعنی د مجاز د صحت دپاره صرف دومره خبره پوره ده چې د عربیت په اعتبار سره صرف عبارت صحیح شی نو بیا که د حقیقی معنیٰ د پاره څه صورت نه جوړیدو نو مجازی معنیٰ طرفته به رجوع کولے شی ۔

صاحبین:په نزد مجاز د حکم په باره کښې د حقیقت نائب دے یعنی د کلام حقیقی معنیٰ صحت هم ضروری دے۔پس که حقیقی معنیٰ فی نفسه ممکن وی خو د څه رکاوټ په وجه په هغې عمل ممکن نه وی نو مجاز طرفته به رجوع کولے شی ۔

مثال:که مولیٰ داسی غلام ته (چې په عمر کښې ترینه مشر وی) اووائی دا ځما زوے دے۔نو د **صاحبینوؒ** په نزد داکلام لغوه دے ددی مجازی معنیٰ ازادی هم مراد نشی کیدے ځکه چې حقیقی معنیٰ زوے کیدل محآل دی مشر د کشر زوے نشی کیدے۔

امامؒ په نزد به مجازی معنیٰ مراد وی او غلام به ازاد وی ۔تلفظ ئې صحیح دے نو مجاز طرفته به رجوع کیګی ۔

څلورمه خبره: د يو لفظ نه په يو ځائ معنئ حقيقي او مجازي نشي مراد کولے لکه: **او لامستم النساء** (المائدة) کښې د ملامسة معنئ حقيقي ديو بل ته چ کول مسه کول دی او مجازي معنئ ئې جماع کول دی نو چې مجازي معنئ جماع مراد شوه وس حقيقي معنئ ته چ نشي مراد کيدے ـ او د ښځې د مس کولو سره به اودس نه ماتيږي۔

تشريح: هاں يو صورت ددی نه مستثنئ دے او هغه عموم مجاز دے يعنئ داسی معنئ مراد کول چې هغه حقيقي او مجازي دواړو معنئ ته شامله وی نو داسی صورت کښې حقيقت او مجاز دواړه مراد کيدے شي ـ

پنځمه خبره: لفظ په غير معنئ موضوع له کښې استعمال دپاره ضروري ده چې په معنئ موضوع له او غير موضوع له کښې مناسبت وی ـ لکه: بهادر سړی ته شير وئيلے شي نو دواړو کښې د بهادرئ مناسبت دے۔

د احکام شرعيه حقيقي او مجازي معنئ په درميان کښې د تعلق وه قسمه دی ـ

علت او حکم والا تعلق لکه: خريد کول او مالک درميان تعلق دے

تشريح: علت د محکوم عليه وصفي حالت دے چې په هغې سره حکم شرعي متعلق کولے شي چې کله وصف موجود شي نو حکم هم موجود شي او چې کله وصف ختم شي نو حکم هم روستو شي ـ

لکه: اشياء کښې خريد کول د مالک جوړولو علت دے او نشه آور ګرزيدل شراب کښې د حرمت علت دے نو که شراب سرکه شي نو حکم د حرمت به هم روستو شي ـ

سبب او حکم والا تعلق: لکه د ګردن (ذات)ملکیت او دوینز ے نه دجنسی فائده اچتولو تعلق۔

تشریح:سبب هغه شے دے چی یو شی ته رَسَوَل وکړی او په هغۀ کښی اثر انداز نه وی ۔لکه لار منزل ته رسول کوی او رسۍ اوبو ته رسول کوی نو دادواړه سبب دی دغه شان وینزه کښی دګردن ملکیت د هغې نه د فائدے اغستو د جواز سبب دے ۔

حکم:اول صورت کښی د جانبینو نه مجاز صحیح دے یعنی علت نه حکم مراد کول او بالعکس، **دویم** صورت کښی یو طرفه صحیح دے ذکر د سببب او مراد حکم او بالعکس صحیح ندے۔

مثال:که یو سړے اووائی چی که زه د غلام مالک شوم نو هغی به ازاد وی او مالک کیدو نه ئی خرید کیدل مراد وی نو صحیح ده او که اووایی چی کچرے یو غلام می واغستو نو ازاد به وی او د اغستو نه مراد مالک کیدل وی نو هم صحیح دی ۔ځکه چی د خرید کولو او ملک کیدلو درمیان کښی داول قسم اتصال دے او مجاز د جانبینو نه صحیح دے ۔

تشریح:که داسی ئی اوؤی چی که زه مالک شوم او بیا دنیم غلام مالک جوړ شو او هغه ئی خرڅ کو او بیا د بل نیم غلام مالک شو نو غلام به ازاد نه وی ځکه چی ملکیت په غلام کښی یو زاۍ نه شو او په عرف کښی مالک هغه چاته وائی چی په یو وخت کښی د پوره شی مالک شی ۔

او كه چرې د مالك كيدو نه ئې د خريد معنئ مراد وى نو بيا به غلام ازاد وى ځكه د خريد دپاره ضرورى نده چې په ټول كښې په يو زائې خريد جمع شى ـ دغه حكم د برعكس صورت دے ـ

يعنى د خريد كولو نه مالك كيدل مراد واخلى نو دا نيت درست دے خو قضاءً نه ځكه د تهمت يره ده چې د غلام ازادئ نه ځان بچ كوى۔

دويم صورت: كه چا خپلے ښځې ته اووى چې ما ازاده كړې ئې او نيت دطلاق وى نو صحيح دے او كه وينزے ته ئې اووى چې ما تاله طلاق دركړے نو وينزه ازاده نده۔

تشريح: ازادولو سره د طلاق نيت صحيح دے ځكه چې ازادول ملكيت رقبة ختمول علت دے او وينزى كښې ملك رقبى زوال د ملك انتفاع ختمولو سبب دے پس ازادول د ملك متعى د پاره صرف سبب دے او سبب ويئل او حكم (مسبب)مراد كول صحيح دى او ددى برعكس صورت صحيح ندے۔يعنى طلاق وئيل او ازادى مراد كول صحيح ندى ځكه چې طلاق د ازادئ سبب ندے۔مزيد وضاحت طلب دے۔

شپږمه خبره: معنئ حقيقى پريخودل اومعنئ مجازى اغستو دپاره د قرينے ضرورت دے ،دد ے قرائن پنځه دى ـ

۱ ـ چې كله مجازى معنئ د خلقو په رواج وى حقيقى معنئ پريخودے شى لكه: چا قسم وكو چې سر به نه خورى نو سر به د غوا ميخے بيزے مراد وى د مرغئ ،كونترے وغيره نه ځكه چې عرف كښې دا سر نه خوړلے كيږى۔

۲۔د نفس کلام قرینه لکه یو سړے اووائی چې څما کوم مملوک دے هغه ازاد دے نو مکاتب به ازاد نه وی ځکه چې هغه کامل مملوک ندے بلکه تصرف اعتبار سره ازاد دے دده صرف ګردن مملوک دے یا لکه ارشاد دے **واخفض لهما جناح الذل** یعنی والدینو ته د عاجزئ اوږه خکته کړه ۔و جناح معنیٰ خو اوږه ده خو د ذُل لفظ ددی قرینه ده چې دلته حقیقی معنیٰ مراد نده

۳۔سیاق کلام قرینه: (سیاق اصل کښې کلام نه بعد موندلی شوی قرینه ده او سباق په باء سره په کلام کښې اول موندلی شوی قرینه ده خو عرف کښې سیاق او سباق په یوه معنیٰ استعمالولے شی او سابق لاحق دواړه قرینے اغستے شی)

پس که مسلمان حربی ته اووائی چې راکوز شه او هغه د محفوظ ځائ نه راکوز شو نو هغه به په امن وی دده قتل به جائز نه وی ،او که داسی اووائی چې راکوز شه که نارینه ئی او هغه راکوز شو نو ده ته به امن نه وی (که نارینه ئی) دا د زورنی او دهمکئ قرینه ده ،دغه شان ارشاد پاک دے **فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر ان اعتدنا للظالمين نارًا** پس که څوک غواړی ایمان دی راوړی که څوک غواړی کفر دی وکی مونږه ظالمانو له اوور تیار ساتلے دے ۔دلته ظاهری معنیٰ خو داده چې مخاطب ته اختیار ورکړے شو ایمان او کفر کښې خو **انا اعتدنا** قرینه ده پدی دلالت کوی چې دا تهدید دے دهمکی ورکول دی ۔

٤ دمتکلم د طرفنه قرینه: لکه خځه د خاوند د کور نه د وتلو اراده کوی او خاوند اووائی چې که ته اووتی نو تاته طلاق نو ددی معنیٰ حقیقی خو داده چې که خځه هر وخت د کور نه اووتله نو طلاق به

واقع وی ،لیکن د متکلم کیفیت داخبره خائی چی هم دی وخت کښی وتلو باندی طلاق ورکول مقصود دی پس په دغه وخت دی خځه ودریږی او که بل وخت ؤزی نو طلاق واقع ندی ـ(دیته یمین فور ویئلے شی)۔

۵ـ د محل کلام قرینه: یعنی محل کلام معنیٰ حقیقی نه قبلوی نو معنیٰ مجازی به مراد وی لکه د ازادی خځی نکاح په لفظ د بیعی ،هبی ،صدقی او تملیک سره صحیح دے ،ځکه چی ازاده خځه په یو صورت هم د بیع محل ندے نو ددی الفاظو حقیقی معنیٰ متروکه ده او مجازی معنیٰ د بُضع ملکیت به مراد شی پس دی الفاظو سره به نکاح صحیح وی ـ

فائده: چرته چی موقع داسی وی چی مجازی معنیٰ د قرینے د وجے نه متعین وی نو بیا په کلام کښی د نیت ضرورت نشته۔

پنځه دیرشم سبق

د حروف دمعانیو بیان

د حروفو د معانیو بیان تعلق د حقیقت او مجاز د بحث سره دے لکه چی **فی** مثلًا ظرفیت دپاره شی نو حقیقت دے او چی په معنیٰ د **علیٰ** شی نو مجاز دے ـ

حروف معانی مطلب معنی دار حروف که مفرد وی لکه **ب** او که مرکب وی لکه **علیٰ اِلیٰ** ددی مقابل حروف مبانی دی چی هغے ته حروف هجاء هم وائی چی د لفظ جوړولو د پاره وی لکه **رجل** کښی **ر،ج،ل** دا حروف مبانی دی دی سره د رجل جوړ شوے دے ـ

حروف معانی کښی بعض حروف حروف عطف دی او بعض حروف جاره دی ـہ

حروف عطف: واو،فاء،ثم،حتیٰ ،او ،بل،لکن۔

حروف جاره: الیٰ،علیٰ،فی ،باء۔

۱۔واو: د مطلقی جمع د پاره دے ترتیب سره ئی کار نشته۔لکه **جاء زیدٌ وعمروٌ** زید او عمرو راغلی دی یو ځائ او که ړومبے وروستو دی سره ئی کار نشته هم دا د **واو** حقیقی معنیٰ ده۔

بیا که چرته عطف د مفرد په مفرد باندی وی نو محکوم علیه او محکوم بهٖ کښی به شرکت وی ،او که عطف د جملے په جملے باندی وی نو صرف ثبوت او وجوب کښی به ئی حصه وی ،او کله کله واو مجازًا د حال په معنیٰ هم رازی پدی صورت کښی حال د ذوالحال دپاره قید وی لکه ځوک خپل غلام ته اووائی چی **اَدِّ الیَّ الفًا وانت حرٌ** ته ماله زر روپۍ راکه په داسی حال کښی چی ته آزاد ئی نو د ازادئ د پاره به ادائیګی شرط وی نو حال او ذوالحال به دواړه جمع کولے شی او **واو** به د شرطیت معنیٰ ورکوی ۔

۲۔الفاء: داد تعقیب مع الوصل دپاره رازی نو معطوف به د معطوفٌ علیه نه په زمانه کښی روستو وی خیر دے که زمانه دومره کمه وی چی احساس ئی نشی کیدے،لکه که چا خپلی ښځی ته اووی چی **ان دخلتِ هذه الدار فهذه فانتِ طالق** نو که دا دویم کور ته د اول کور نه روستو لاړه نو طلاق به واقع وی ورنه نه ۔کله کله فاء مجازًا جزاء استعمال کیږی ځکه چی جزاء د شرط نه روستو وی ،نو که خاوند اووی **اِن دخلتِ الدار فانتِ طالق** نو طلاق به ددخول الدار نه روستو واقع شی ۔

دغه شان فاء د احکامو د علتونو په ځائ هم استعمال کیګی ځکه چی احکام د علتونو نه وروستو رازی لکه یو کس بل ته اووائی **ما دا**

غلام په تا باندی په دومره روپۍ درخرخ کو بل په جواب کښی اووی **فهو حرٌ** نو دااقتضاءًا بیع قبلول شو او بعد البیع داغلام ازاد شو،او که دی بل په جواب کښی **هو حرٌ یا وهو حر** ووی نو دا به د بیعی رد وی ۔

او کله فاء د علت د بیان دپاره رازی چی کله علت دائمی وی نو د د حکم نه روستو هم موجود وی ځنګه چی مخکښی موجود وو نو دتعقیب معنیٰ چی د فاء مراد دے هغه به حاصل شی ، نو که چا خپل غلام ته اووی **ادِّ الی الفًا فانتَ حرٌ** نو دغه غلام به فورً ازاد وی او زر روپۍ به قرض وی ۔

کله فاء مجازًا په معنیٰ د واو هم استعمالیګی لکه **له علی درهم فدرهم** یعنی دوه درهم د هغه په ما باندی دی ۔

۳۔ثمَّ:دا د تراخی دپاره رازی خو د امام صاحبؒ په نزد تراخی په لفظ او معنیٰ دواړو کښی وی یعنی داسی به وی چی د ثم نه مخکښی کلام ویئلو نه روستو خاموش شو او بیا ئی د ثم نه ما بعد کلام وکو۔

نو که خاوند اووی **انتِ طالقٌ ثم طالقٌ** نو دا داسی دی چی انتِ طالق ئی ویئلے دے بیا خاموش شوے دے او بیا ئی روستو نوے ثم طالق ویئلے دے او هم دا کامله تراخی ده،یعنی تکلم او حکم دواړو کښی تراخی ده۔

او **صاحبینوؒ** په نزد صرف په حکم کښی تراخی وی په لفظ کښ وصل وی ۔ځکه چی ظاهر کښی الفاظ د یو بل سره میلاؤ دی او عطف تقاضا هم وصل دے ،انفصال سره عطف صحیح ندے نو غوره صرف په حکم کښی تراخی ده ۔

ثمره اختلاف: که خاوند غیر مدخول بها ته اووی **انتِ طالق ثم طالق ثم طالق ثم طالق ان دخلت الدار** نو د **امام صاحبؒ** په نزد به ړومبۍ طلاق واقع شی او روستنۍ به بیکاره شی ځکه چی دے د انت طالق نه روستو خاموش شو نو دا طلاق واقع شو او ددی نه روستو خځه محل د طلاق پاتی نه شوه ځکه د غیر مدخول بها په یو طلاق سره نکاح ختمیږی ،

او که شرط ئی رامخکښی کړو **ان دخلت الدار انتِ طالق ثم طالق ثم طالق ثم طالق** پدی صورت کښی به اول طلاق د شرط پوری معلق شی او دویم به واقع شی او دریم به بیکاره شی او که دخځی سره ئی دوباره نکاح وکړه او دا هغې کور ته ننوته نو هغه معلق طلاق به اوس واقع شی ۔

صاحبینؒ فرمائی چی ټول طلاقونه به معلق وی او په ترتیب به واقع کیګی ځکه ددویؒ په نزد په کلام کښی اتصال دے او عبارت کښی فصل نشته نو ټول به د شرط سره معلق وی شرط مقدم وی که مؤخر خو د طلاقو واقع کیدل به بالترتیب وی ړومبۍ او روستے به پکښی وی یعنی په حکم کښی به تراخی وی نو که خځه مدخول بها وه نو دریواړه طلاقونه به واقع وی ،او که غیر مدخول بها وه نو ړومبۍ چی واقع شی نو خځه به د نکاح نه اووزی او دویم او دریم به بیکاره شی ۔

او کله ثم مجازًا په معنیٰ د واو رازی لکه ارشاد پاک دے **ثم کان من الذین آمنوا** یعنی وکان من الذین آمنوا او وی هغه د ایماندارو نه۔

٤۔بل: ثانی د اول پځائ کیخودل او د غلطئ اصلاح کولو دپاره رازی ۔

لکه څوک وائی جائنی زیدٌ بل عمروٌ پس مقصود د عمرو راتلل ثابتول دی دزید نه خو زید کښی احتمال شته چی راغلے دے او کنه۔

فائده: د بل په ذریعه سره د غلطئ د اصلاح اطلاع ورکول صحیح دی ،او انشاء یعنی نوی خبره پیدا کولو کښی صحیح ندی ۔

نو که چرته خاوند ښځی ته اووی **انتِ طالق واحدة بل ثنتینِ** نو درے طلاق به واقع شی ځکه چی خاوند داسی نشی کولے چی ړومبے طلاق باطل کړی هغه ته ددی حق نشته نو اول او ثانی دواړه به واقع شی ،

ددینه خلاف که یو کس اووائی **له علیَّ الفٌ بل الفانِ** نو هم دوه زره به لازم وی ځکه چی دا اخبار دے چی په کښی د غلطئ اصلاح کیدے شی او اول صورت انشاء ده پدی کښی د غلطئ اصلاح ممکن نده۔

۵۔لکن: د نفی نه روستو استدراک دپاره دے یعنی کلام سابق نه چی کوم وهم پیدا کیدو هغه لره ختموی ۔

لکه ته وائی **ماجاءنی زیدٌ لٰکن عمروٌ** ځما خوا ته زید ندے راغلے لکن عمرو ړومبئ جملی نه خیال پیدا شو چی شاید عمرو نه وی راغلے ځکه چی لازم ملزوم دی ددی وجهے ئی استدراک وکو۔

تشریح: لٰکِنْ که د نون د جزم سره وی نو حرف عطف دے او د استدراک فائده ورکوی او که د نون مشدد سره لٰکِنَّ شی نو بیا حرف مشبهہ بالفعل دے او بیا هم د استدراک دپاره دے ۔

سوال: د لکن په ذریعه عطف کله صحیح دے ؟

جواب: لکن په ذریعه عطف هله صحیح دے چې کلام پیوست وی او که کلام پیوست نه وو نو لکن به جمله مستانفه وی ۔

د کلام پیوستوالی دپاره دوه خبرې ضروری دی ۔

۱ ۔ لکن کلام سره موصول وی مفصول نه وی پس که چرې لکن نه مخکښې خاموش شو بیا ئې لکن سره کلام وکو نو کلام به پیوست نه وی ۔

۲ ۔ بعینه د یوی خبرې نفی او اثبات به نه وی ، بلکه نفی به د یو شی وی او اثبات به د بل شی ،

مثلًا یو کس اووی چې د فلانی په ما باندی هزار روپۍ قرض دی هغه فلانے ورته اووائی چې نه بلکه غصب کړې دی دی ، نو مال به لازم وی ځکه چې کلام پیوست دے او نفی د سبب ده د مال نده پس کچرې دی دوؤ شرطونو کښې یو شرط نه وو نو کلام به نوے وی معطوف به نه وی ۔ لکه یوے وینزے د مولا د اجازت نه بغیر په سل روپۍ نکاح وکو بیا مولا ووی چې په سل روپۍ د نکاح اجازت نه ورکوم لیکن په یو نیم سل نو عقد د نکاح باطل شو ځکه چې کلام پیوست ندے ۔

ځکه چه هر کله مولا ووی چې په سلو د نکاح اجازت نه ورکوم نو د نکاح زیلے ختمے شوی ے د صحت د نکاح صورت باقی پاتی نه شو، بیا ئې روستو ووی چې لیکن یو نیم سلو روپو باندی اجازت ورکوم نو دا بعینه هم ددغه منفی نکاح اثبات دے ځکه چې مهر خو په نکاح کښې تابع دے دد ے اعتبار نشته پس دواړه کلامونه متناقض شو ، لهذا دویم کلام به د نوی مهر سره په نوی نکاح باندی حمل کولے شی پس لکن مستانفه شو عاطفه نه شو۔

٦۔او:دؤو خبرو کښې د یوې خبرې دپاره او دے۔پس که مولا ووی **هذا حرٌ او هذا** دا داسی دے لکه احدهما حرٌ پس ده ته به دبیان اختیار وی کوم یو چې دے متعین کړی هم هغه به ازاد وی ،او کلام منفی کښې لفظ د او د دوؤ مذکورو خبرو نفی کوی ،لکه که چا قسم وکو چې زه به دده سره یا دده سره خبرې نه کوم نو که د هر یو سره ئې خبرې وکړې نو قسم ئې مات شو۔

او کلام مثبت کښې لفظ او دؤو مذکورو خبرو کښې یوې ته شامل وی او دتعین اختیار پکښې وی ،لکه د خلقو قول" یاداواخله یا داواخله نو اخیستونکی ته اختیار دے او دلته د تخیر دپاره دے که اباحت عام وی ۔لکه سورة مائده کښې دی "پس د قسم کفاره لس محتاجو له خوراک ورکول دی ددرمیانه درجے کوم چې خپل کور واله باندی خوَرئ یا هغوی له کپړا ورکول یا یو غلام یا وینزه ازادول نو کفاره ورکونکی ته اختیار دے دریو کښې چې کم ئې خوخ وی هغه دی ادا کړی ۔

اوکله کله مجازًا د حتیٰ په معنیٰ باندی هم رازی لکه څوک وائی **لاادخل هذه الدار اواَدخُلَ هذه الدار** زه به دی کور ته نه زم تر څو چه زه دی کور ته لاړ نشم ،دلته او بمعنیٰ حتیٰ دے نو که ړومبی کور ته مخکښې داخل شو نو قسم به مات شی او که دویم کور ته مخکښې داخل شو نو قسم به ئې پوره شی ۔

۷۔حتیٰ: حتیٰ اصل غایه دپاره دے غایت یعنی آخری حد چرته چې اورسی او شے اودریګی او دا معنیٰ به هله وی چې کله د حتیٰ نه مخکښې شے قابل امتداد وی (د اوږدیدو قابل وی)او د حتیٰ مابعد شی غایه جوریدے شی ۔

لکه څوک وائی **عبدی حرٌ ان لم اضربک حتیٰ یشفع فلانٌ** ځما غلام به ازاد وی که زه تا اونه وہم تر څو چی فلانے سفارش وکی۔پس که بالکل ئی اونه وخو یا ئی اوخو خو د سفارش نه مخکښی ئی پریخودو نو قسم به مات شی ،ځکه ضرب تکرار سره اوګدیدے او سفارش د غایت جوړیدو صلاحیت لری ۔

او که دحتیٰ معنیٰ حقیقةً صحیح نه وی نو حتیٰ مجازًا بمعنیٰ **کَیْ** وی او دا به هله وی کله دحتیٰ ماقبل قابل امتداد نه وی او ئی مابعد کښی د غایت جوړیدو صلاحیت نه وی او حتیٰ په جزاء محمول کول ممکن وی ۔

لکه څوک اووائی **عبدی حرٌ ان لم آتکَ حتیٰ تغدینی** ځما غلام به ازاد وی که زه ستا خواله رانشم دپاره ددی چی ته په ما ناشته وکی ،پس که دے راغےاو هغه پری ناشته اونه خوروله نو حانث به نه وی یعنی غلام به ازاد نه وی ۔ ځکه چی ناشته کول د غایت جوړیدو صلاحیت نه لری بلکه ناشته په چا کول د ډیر راتلو دعوت ورکوی هاں د جزاء جوړیدو صلاحیت لری نو په جزاء به حمل کولے شی ، اوکه دا خبره هم ناممکن شی نو بیا به حتیٰ مجازًا صرف د عطف دپاره وی بمعنیٰ **فاء** او د غایت معنیٰ به ختمه شی ۔لکه څوک وائی چی **عبدی حرٌ ان لم آتک حتّی اتغدیٰ عندک الیوم** ځما غلام د ازاد وی که زه نن رانغلم ستا خواته پس چی ستا سره ناشته اوکم ،نو هغه دده خواله راغے او په دغ ورځ ناشته ونکړه نو حانث به وی یعنی غلام به ئی ازاد وی ،

ځکه چی دلته ئی دواړه افعال راتلل او ناشته کول یو فاعل طرفته منسوب دی او خپل فعل د خپل بل فعل دپاره جزاء نشی

جوړيدے پس عطف باندی به حمل وی او معطوف معطوف عليه مجموعه قسم پورا کيدو له به شرط وی ۔

۸۔الیٰ: انتهائے غايے دپاره رازی لکه: **سافرتُ من تورورسک الی ترنول** بيا که دا غايت مستقل بالذات موجود وی نو غايه به په مغيّا کښی داخله وی لکه وائی ماددی ديوال نه دی ديوال پوری زمکه واخسته نو دواړه ديوالونه به په زمکه کښی داخل نه وی ،او که غايت مستقل بالذات موجود نه وی نو بيا به کتلے شی چی دکلام شروع غايت ته شامله ده کنه، که شامله وه نو غايت به په مغيا کښی داخله وی لکه د **اوداسه په حکم کښی** ښنګلی او پړکی په غسل کښی داخل دی ځکه لاس او خپی ښنګلو او پړکو ته شامل دی ۔

او که په شروع کلام کښی غايت ته نه وی شامل يا شک وی نو غايت په مغيّا کښی داخل نه وی لکه شپه په روژه کښي داخله نده ،ځکه چی شپه په ورځ کښي داخله نده۔

۹۔علیٰ: د الزام دپاره رازی لکه د فلانی په ما باندی سل دی **"لفلانٍ علیَّ مائةٌ** نو دا به قرض وی ،او علی خاص به بدلو او عوضونو باندی داخل وی نو مجازًا به د باء په معنیٰ باندی وی لکه بعتُ هذا علیٰ عشرينَ يعنی بعشرينَ داشے ما د شلو روپو په عوض خرڅ کړے دے ۔

او کله کله **علیٰ** د شرط په معنی سره وی لکه :**يُبايعنکَ علیٰ ان لا يشرکن باللّٰه شيئًا** يعنی ستا نه بيعت په دی شرط وکړی چی د **اللّٰه** سره هيڅ شی لره نه شريکوم۔

۱۰۔فی: د ظرفيت دپاره رازی يعنی د يوشی ځائے يا زمانه خودلو دپاره رازی لکه څوک وائی **غصبتُ ثوبًا فی منديلٍ** (ما په رومال کښ کپړه

غصب کړیده)**غصبتُ تمرًا فی قوصرة(ما په ټوکرئ** کی کهجورے غصب کړی دی)

نو دواړه شیزونه به لازم وی۔

او **فی** ظرف زمان او مکان او مصدر دریواړو دپاره استعمالیږی۔

الف:انت طالق فی غد۔مثال د ظرف زمان۔

دلته د **صاحبینؒ** په نزد باندی ذکرد **فی** او حذف برابر دی راتلونکے صباح چی طلوع شی طلاق به واقع شی۔

امام اعظم صاحب فرمائی چی که حذف د فی وی نو په طلوع الفجر سره به طلاق وی **انت طالق غدا۔**

او که ذکر دفی وی **انت طالق فی غد**نو بیا ئی دوه صورتونه دی که نیت د آئنده صباح د آخر ورځ وی نو د ورځی په آخر کی

به طلاق واقع شی۔

او که نیت نه وی نو د آئنده ورځ په غیر معین جزء کی به طلاق واقع شی۔

ب:او دخول د فی په مکان وی **انت طالق فی بغداد** نو داسی طلاق به ټولو ځایونو کی واقع وی د بغداد خصوصیت به نه وی بلکه فورًا به واقع وی۔

ج: چی کله **فی** داخل وی په مصدر باندی **انت طالق فی دخولک الدار** نو **فی** به د شرط معنی فائده ورکوی نو پدی شرط به طلاق

واقع شی چی دخول ددار موجود شی مخکی ددخول نه به طلاق نه وی۔

باء

باء : د الصاق دپاره رازی (یو شے د بل شی سره یو ځائی کول)دغه وجه ده چی باء په ثمن داخلیګی ځکه چی بیع کی اصل مبیعه ده او ثمن شرط دے یعنی حصول مبیعه د پاره حیله او ذریعه ده۔

او قاعده داده چه تابع یعنی ثمن اصل سره میلاو شی ۔

زکه باء په ثمن داخله وی نه په مبیعه لکه (**اشتریت منک هذه السیاره بالف)** نو الف ثمن دے په دی کی تبدیلی جائز ده او سیاره مبیعه پدی کی تبدیلی جائز نده۔

(د باءمذکوره معنی حقیقی ده او باقی معناګانی تبعیض،زائده وغیره مجازی دی)

د بیان بیان

یعنی هغه خبری چی ددلائلو شرعیه دوضاحت باره کښی وی۔

دبیان لغوی معنی وضاحت دے ،او اصطلاح کی مخاطب ته د خپل مراد ظاهر کول دی۔

بیان په پنځه قسمه دے۔

1۔بیان تقریر :کلام داسی الفاظو سره موکد کول چی د مجاز یا تخصیص شک ختم شی۔

لکه:**ولاطائر یطیر بجناحیه** ـنه یوه مرغۍ الوزی خپلو وزرو سره

دلته د بجناحیه سره د **فلان یطیر بهمته** احتمال ختم شو چی فلانۍ په خپل همت سره الوزی۔

یا **لکه: فسجد الملئکة کلهم اجمعون**دلته ملائکه عام دے د تخصیص احتمال پکی شتے چی بعضو فرشتو سجده کړی وی نو **کلهم** سره ئی دغه احتمال ختم که۔

یا لکه :**د فلانی په ما غنم دی د فلانۍ زمکے غنم دی،یا د فلانی په ما مالتے دی د فلانی باغ مالتی دی**

دی قسم وضاحت ته بیان تاکید او بیان تقریر ویئلے شی۔

۲ـبیان تفسیر:

چی کلام مجمل وی یا پکی مشترک لفظ وی او متکلم په خپل بیان سره دهغے وضاحت وکړی۔

لکه:اقیموا الصلوة واتوالزکوة .

مونځ او زکوه دواړه الفاظ مجمل دی ددی وضاحت دپاره چه کوم احادیث راغلی هغے ته بیان تفسیر وائی۔

یا لکه: **ثَلَاثَۃَ قُرُوءٍ** یعنی طلاقه ښځه به بل ځائے نکاح نه کوی تر سو چی درے قروء تیر نشی۔او قرء لفظ مشترک دے حیض ته هم وائی او طهر ته هم ـنو حدیث کی د وینزے طلاق دوه او قروء ئی دوه حیضه دی دا حدیث دآیت دپاره بیان تفسیر شو۔

حکم د بیان تفسیر: په کلام کی متصل هم راتلے شی او منفصل هم۔

3۔بیان تغییر: چی د متکلم په بیان سره د کلام مطلب بدل شی۔

دا په دوه قسمه دے۔۱۔**شرط ۲ استثناء**

لک: انت طالق ان دخلت الدار نو که دلته خاوند صرف **انت طالق** ویئلے وے نو طلاق فوری وو خو د شرط سره بدل شو او معلق شو،او حکم هم بدل شو چه وس فورا طلاق نه واقع کیګی۔

یا لکه حدیث کی دی چه سره زر په سرو زرو مه خرسوئ مګر سر په سر،دلته که چری صرف اوله جمله وے نو سره زر په سرو زرو سره خرڅول بلکل ناجائز وو خو استثناء سره د اولنی کلام مطلب بدل شو۔وس ۔طلب دادے چی کمی زیاتی سره ئی مه خرسوئ۔

حکم :دبیان تغییر:صرف متصل صحیح دے او منفصل صحیح ندے۔

دریم صورت د بیان تغییر غایت هم کیدے شی یعنی د کلام مذکور حد بیان شی نو مطلب به بدل شی۔

فائده:کومه خبره چی شرط باندی معلق وی نو هغه هله د حکم سبب‌جوړیږی چی کله شرط اوموندلے شی د هغ نه مخکی هغه د حکم سبب نه وی۔نو که چا پردئ خزی ته ووی چی که ما ستا سره نکاح وکو نو ته به طلاقه ئی نو دا تعلیق صحیح دے که نکاح ئی وکړه طلاق به واقع شی۔

فائده :استثناء کی د استثناء نه وروستو چی سه باقی پاتی وی نو هم دهغے تلفظ تکلم وی لکه آیت دے فلبث فیهم الف سنة الا خمسین عاما نو ګویا تکلم صرف په نهنیم سوه کالو دے۔

٤ ۔بیان ضرورت: دا هغه بیان دے چی بطریق ضرورت وی یعنی خود بخود وی او ددی درےصورتونه دی۔

الف:چی د منطوق په حکم وی(منطوق د مفهوم ضد دے) یعنی کوم شے چی صرف د الفاظو نه فهم شی او د هغے د فهم دپاره جور سوچ او اجتهاد ته ضرورت نه وی نو هغه منطوق دے۔

لکه سوره نساء کی ارشاد پاک دےکه د مړی اولاد نه وي نو د هغه مراث به مور پلار ته ملاوېږی او بیا فرمایٔ د مور به ثلث رسی ،نو معلومه شوه چی باقی د پلار دےنودپلار حصه بیان شوه په بیان ضرورت سره .

دریم صورت دادے چی هغه بیان د متکلم د حالت او قرینے نه ثابت وی دیته بیا حال وائی ددی دوه مثالونه دی **تقریر نبوی،خاموشی د مَولیٰ**

تقریر نبوی

که نبی کریم صلی **الله** علیه وسلم یوه خبره اووینی یا تری خبر وی او خه رد ئی ونه کړی۔نو د نبی ﷺ د خاموشۍ نه دا بیان وشو چی دا معامله جائز ده۔

دویم مثال:د مولیٰ خاموشی ،مولیٰ خپل غلام ولیدو چی خرید وفروخت ئی کوو او مولیٰ خاموشه وو نو دا به بیان وی ددی خبری

چې غلام ماذون دے،او داسې ونشي نو بيا به خلق دهوکه شي خلق د دهوکے نه بچ کولو د پاره د مولٰی خاموشي د بيان په ځائے قائم کړه ۔

ځکه :السکوت فی موضع الحاجة الی البیان بیانٌ۔ د بیان د ضرورت په موقع خاموشي په منزله د بیان ده

ج۔بيان د عطف په صورت کښې وی لکه په يوه غير واضحه جمله باندې مکيلی يا موزوني شے عطف کول ددې سره به دد غے غير واضحے جملے وضاحت وشي لکه **علیّ مائةٌ و درهمٌ** د هغه په ما سل دي او يو درهم دے نو عطف ددې دليل دے چې سل هم درهمونه دي ۔

۵۔بيان تبديل:چې ددې بل نوم **نسخ** دے او نسخ دې ته وائي چې اول حکم په دويم نص سره پورته کړے شي ۔

قرآن پاک کښې ددې قسم نه تعبير په نسخ او تبديل دواړو سره شوے دے۔**ما ننسخ من آيةٍ الاية، واذا بدلنا اٰيةً الاية۔**

حکم:دا بيان د شارع د طرفنه جائز دے نه د بندګانو د طرفنه ۔

فائده:شارع حقيقي صرف **الله پاک** دے خو مجازًا نبیﷺ ته هم شارع ويئلے شي۔

البحث الثانی فی سنة رسول اللهﷺ

د سنت لغوی معنیٰ ده لار او سنت نبویﷺ نه مراد هغه اقوال او افعال او تائدات دی چې کوم چې آنحضرت ﷺ طرفته منسوب دی ،

او دلته د سنت لفظ عام دے د صحابه رضی **الله** عنهم اجمعين اقوال او افعال ته هم شامل دے۔

تشريح: د سنت اصطلاحی معنیٰ ده **الطريقة المسلوكة فی الدين** هغه دينی لار چی په هغے تلل کولے شی او د حديث معنیٰ ده د نبیﷺ قول،فعل،تائيد(تقرير)

په حديث او سنت کښی نسبت د عموم خصوص من وجهٍ دے،کوم احاديث چی معمول بها وی هغه حديث هم دی او سنت هم ،او کوم احاديث چی منسوخ يا مخصوص بالنبیﷺ دی نو هغه حديث دی خو سنت ندی ،او دصحابه رضی **الله** عنهم اجمعين اقوال او افعال سنت دی خو حديث ندی ،او په احاديثو کښی د سنت په مضبوطيا سره د نيولو حکم دے ،او د احاديثو محفوظ کولو او نورو ته د رسولو حکم دے ،دی وجے نه بحث ثانی کښی د سنت لفظ استعمالولے شی نه د حديث۔

کتاب الله کښی چی د کومو شلو اقسامو تذکره وه هغه ټول د سنت هم اقسام دی ۔

پدی باب کښی هغه خبری بيانولے شی کومے چی د سنت سره خاص دی

درسول اللهﷺ اطاعت د الله پاک اطاعت دے نو دا اعتقاد ساتل پکار دی چی سنت په علم او عمل کښی په منزله د کتاب الله دی ۔

البته د شبهے گنجائش پکښی د سند په اعتبار سره شته۔

اقسام السنة باعتبار کیفیة الاتصال بنا۔

پس د سنت د رسول **الله** ﷺ نه تر مونږ پورے متصل کیدو کیفیة درے قسمه دی ۔**متواتر ،مشهور ،خبرواحد۔**

۱۔ متواتر:دا هغه حدیث دے کوم چی د صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین ددور نه وسنی دور پورے بے شماری خلقو نقل کړے وی او هغوی په دروغو باندی جمع کیدل په خیال کښی نه رازی۔لکه **د قرآن نقل کول،د مو نځونو د وختونه نقل کول۔دیته متواتر طبقة وائی ۔**

حکم:متواتر علم یقینی ثابتوی او ددی منکر کافر دے او دے سره علم بدیهی حاصلیږی :**علم بدیهی:**چه خود بخود داسی یقین پیدا شی لکه چی مشاهده وی ۔لکه:مکه تا لیدلی نه وی خو یقین دی د مشاهدے پشان دے لکه چی لیدلی دی وی ځکه چی د ډیرو خلقو نه تا اوریدلی دی چی مکه یو ښار دے۔

۲۔مشهور:دا هغه حدیث دے چی د صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین دور کښی خبر واحد وی یعنی یو یا دوؤ روایت کړی وی بیا په دور د تابعینو او تبع تابعینو کښی دومره خور شی او دومره خلق ئی نقل کړی چی د هغے په دروغو جمع کیدل خیال کښی نه رازی۔لکه روایت د **مسح علی الخفین ۔**

نوټ:دور تابعینو نه بعد به د شهرت اعتبار نه وی ۔

حکم:دا قسم حدیث علم طمانینت پیدا کوی۔یعنی اطمنان بخش وی۔

او انکار ددی ګمراهی ده البته کفر ندے۔

نوټ:بدعت هر هغه خبره چی د هغې د مخکښی نه څه مثال موجود نه وی نه قرآن کښی او نه احادیثو کښی او نه دیو صحابی نه ثابت وی او هر بدعت ګمراهی ده۔

۳۔خبر واحد: دا هغه حدیث دے چی یو یا دوه یا ډیر افراد ئی روایت کړی او درجې د شهرت ته ونه رسی۔

حکم:خبر واحد که صحیح وی نو عمل پری واجب دے خو د یقین فائده نه ورکوی نو د اعتقاد ثبوت پری نشی کیدے۔

شرائط الراوی خبر واحد هله حجت وی چی کله په راوی کښی څلور شرطونه موجود وی ۔**عقل،ضبط،عدالت،اسلام**

عقل:داهغه روشنی ده چه د کوم شیئ ادراک په حواسو سره نشی کیدے دهغې ادراک کوی ۔یعنی عقل د معنویاتو او معقولاتو ادراک کوی او حواس د محسوساتو ادراک کوی۔

خو دلته عقل د بالغ انسان شرط دے د نابالغ ماشوم روایت حجت ندے۔

ضبط:نګهبانی،حفاظت،یادول یا لیکل۔

عدالت:چی ګناه کبیره کوی یا صغیره بیا بیا کوی د هغه روایت مقبول ندے ۔

اسلام:د وحدانیت عقیده ئی وی اوقرار ئی کوی ۔

پس د بچی ،کم عقل،معتوه،غافل ، کمزور ذهن والا،فاسق او کافر روایت مقبول ندے۔

او د ښځې او نابينا او غلام روايت مقبول دے چې نور شرائط موجود وي ـ

د راوي اقسام:

اصل راوي يعنى صحابه رضى **الله** عنهم اجمعين په دوه قسمه دى ـ

۲ـعلم او اجتهاد کښې مشهور وو لکه خلفاء راشدين عبادله اربعه رضى **الله** عنهم۔

حکم:داسې قسم رواويانو په روايت باندې عمل د قياس نه بهتر دے ـ

۲ـيادداشت او حافظه او عدالت کښې زيات مشهور وي لکه ابوهريره ،انس بن مالک رضى **الله** عنہُما۔

حکم:ددې حضراتو روايت که د قياس موافق وي نو عمل به پرې کولے شي او د قياس مخالف وي نو بيا به هم بلاضرورت پريخودے نشي۔

تشريح:ضرووت دادے که چرته په دغه حديث باندې عمل وشه نو بيا به بالکليه د اجتهاد دروازه بنده شي او راوي صحابي غير فقيه وي او د صحابه رضى **الله** عنهم اجمعين دور کښې روايت بالمعنیٰ عام وو نو کيدے شي چې صحابي حسب فهم حديث روايت بالمعنیٰ کړے وي او څه غلط فهمي واقع شوي وي نو داسې صورت کښې به مجبورًا په اجتهاد عمل کولے شي۔

دريم بحث د اجماع بيان

د اجماع معنیٰ ده اتفاق ،او شريعة کښې په يوه خبره باندې په يوه زمانه کښې د امت محمديهﷺ د مجتهدينو اتفاق کول۔

حکم: حديث پشان اجماع هم دليل شرعي دے سورة نساء کښي ارشاد پاک دے: **و من يشاقق الرسولَ من بعد ما تبين له الحق و يتبع غير سبيل المؤمنين نوله ما تولیٰ و نصله جهنم و ساءت مصيرًا۔**

او کوم سړے چې د رسول مخالفت وکړی بعد ددی نه چې مخې ته ئې امر حق واضح شوے وی او دے مسلمانانو لره پريدی او بله لاره خپله کړی نو دے چې څه کوی د هغې کولو موقع به ورکړو او دے به جهنم ته داخل کړو او هغه دتللو ناکاره ځائے دے۔

تشريح: دی آيت کښې **الله** تعالیٰ د مومنانو مخالفت ته د **الله** مخالفت وئيلے دے نو د مومنانو اجماع به د حديث رسول ﷺ پشان قطعی حجت وی ۔او **حاکمؒ په مستدرک** کښې د ابن عمر نه دا روايت نقل کړے دے چې **الله** تعالیٰ به داامت کله هم په ګمراهۍ نه متفق کوی او **امام احمدؒ** او **حاکمؒ د ابن مسعود**رضی الله عنهُ داقول نقل کړے دے چې کومه خبره مسلمانان خه اوکنړی هغه به عند**الله** خه وی او کومه خبره چې ناکاره اوګنړی هغه به عند**الله** ناکاره وی ۔

پس د رسول **الله** ﷺ د وفات نه بعد په دينی جزئياتو کښې ددی امت اجماع قطعی حجت دے او پدی عمل واجب دے ۔

پدی باب کښې معتبر د اهل الرائ او اهل اجتهاد اجماع ده ،د عوامو اجماع يا د علم کلام د علماء اجماع د علم حديث د ماهرانو اجماع معتبر نده ځکه چې دوی ته ددين بنيادی خبرو کښې بصيرت حاصل ندے۔

مراتب د اجماع

اجماع په څلور قسمه ده۔

۱۔یوے واقعه باندی د صحابه رضی الله عنهم اجمعین واضحه اجماع لکه اجماع په خلافت د **ابوبکر** رضی **الله** عنهُ باندی۔

حکم:دا اجماع داسی ده لکه د کتاب **الله** اٰیت ددی منکر کافر دے ۔

۲۔د بعض صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین نه صراحة وی او د بعضو نه سکوت سره وی دیته اجماع سکوتی وائی لکه دور صدیق کښې د زکاة نه ورکونکو خلاف په جهاد باندی اجماع ۔

حکم:دااجماع هم قطعی ده خو منکرئی کافر ندے۔

۳۔ ددور صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین نه وروستو دور کښې په داسی مسئله باندی اجماع چی پکښې د صحابی نه قول نوی روایت شوے۔

حکم:دااجماع پشان د حدیث مشهور ده دی سره اطمینان حاصلیږی خو یقین نه۔

٤۔دصحابه رضی **الله** عنهم اجمعین نه بعد اجماع په یو قول د صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین/سلفو۔

حکم:دا اجماع بمنزله خبر واحد ده واجب العمل ده واجب العقیده نده ۔او په قیاس باندی مقدم ده لکه خبر واحد ۔

د منکرینو د اجماع د انکار بنیاد څه دے؟

جواب:هغوی وائی چی د اجماع وقوع محال ده یعنی د یوے زمانے د ټولو مجتهدینِ امت اقوال ضبط کول راجمع کول ممکن ندی ،یو خو ئی تعداد او شمار ډیر دے او بل علاقے ئی د یو بل نه ډیرے لرے دی ۔

د منکرینو د دی سوال جواب څه دے؟

جواب: د یوی زمانې د مجتهدینو اقوال راجمع کول اګر چی مشکل دی خو ناممکن ندی کوشش او خواری غواړی۔

منکرین د اجماع څوک دی ؟

جواب: دمعتزله،خوارج او اکثر روافض دی اهل السنة والجماعت کښی څوک منکر اجماع نشته۔

قرآن او سنت کښی دلائل د اجماع څه دی ؟

جواب:دلیل نمبر ۱ ۔دا آیة: وَمَنۡ يُّشَاقِقِ الرَّسُوۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الۡهُدٰى وَ يَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيۡلِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصۡلِهٖ جَهَنَّمَ ۚوَسَآءَتۡ مَصِيۡرًا سورة نمبر ٤ النساء آیت نمبر ۱۱۵

ترجمه:څوک چی مخالفت کوی د رسول او سره ددی نه چی په ده سیدها لار کهولاو شوی وی او د ټولو مسلمانانو نه خلاف روان وی نو مونږ به ئی حواله کړو هغې ته کوم چی ده اختیار کړے دے او ورتاؤ به ئی کړو دوزخ ته او هغه ډیر ناکاره ځائے دے د رسیدو۔

پدی آیة کښی د سبیل المؤمنین د مخالفت سزا بیان شوی ده ،او په کوم شئ چی سزا بیان شی هغه حرام وی ،نو د اجماع او سبیل المؤمنین خلاف کول حرام دی نو د رسولﷺ موافقت او د اجماع امت اتباع واجبه ده نو دا خبره ثابته شوه چی اجماع حجة شرعی دے۔

دلیل نمبر ۲ ۔وَاعۡتَصِمُوۡا بِحَبۡلِ اللّٰهِ جَمِيۡعًا وَّلَا تَفَرَّقُوۡا‌وَاذۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ اِذۡ كُنۡتُمۡ اَعۡدَآءً فَاَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوۡبِكُمۡ فَاَصۡبَحۡتُمۡ بِنِعۡمَتِهٖۤ اِخۡوَانًا ۚ وَكُنۡتُمۡ عَلٰى شَفَا حُفۡرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنۡقَذَكُمۡ مِّنۡهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ - سورة نمبر ۳ آل عمران آیت نمبر ۱۰۳

دی آیة کښی الله پاک تفرق حرام کړے دے او تفرق د اجماع نه خلاف کولو نوم دے ۔نو د اجماع خلاف کول حرام شول او اجماع واجب الاتباع شوه۔

دلیل نمبر ۳ـ ففي سنن ابن ماجة :

رواه الحافظ أبو عبدالله محمّد بن يزيد القزويني (۲۰۷ ۲۷۵هـ) ، قال : حدّثنا العبّاس بن عثمان الدمشقي ، حدّثنا الوليد بن مسلم ، حدّثنا معان بن رفاعة السلاميّ ، حدّثني أبوخلف الأعمي ، قال : سمعت أنس بن مالك ، يقول : سمعت رسول الله صلّي الله عليه و آله و سلّم ، يقول : «إنّ أمّتي لا تجتمع علي الضلالة

دی حدیث کښی دی څما امت په ضلالت اتفاق نشی کولےـ

دليل نمبر: ٤ـ شرح نهج البلاغة، جلد ٨، ص ١١٢ حديث : .. فإن يد الله علي الجماعة ـ جماعت د الله پاک د سوری لاندی وی ـ

دليل نمبر: ٥، حدثنا العباس بن عثمان الدمشقي , حدثنا الوليد بن مسلم , حدثنامعان بن رفاعة السلامي , حدثني ابو خلف ـ الاعمى , قال:
سمعت انس بن مالك , يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم , يقول:" إن امتي لن تجتمع على ضلالة , فإذا رايتم اختلافا فعليكم بالسواد الاعظم" د غالب اکثریت اتباع کوئـ

دلیل نمبر :٦: حديث: "إن الشيطان ذئب الإنسان كذئب الغنم، يأكل الشاة القاصية، والناحية، فإياكم والشعاب، وعليكم بالجماعة: رواه احمدـ تاسو په قبیلو او برادرو کښی ټولی کیدو نه بچ شئ په تاسو د جماعت سره کیدل لازم دیـ

دلیل نمبر :٧ـ عن الحارث الأشعري رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: ((إن الله أمرني بالجماعة وأنه من خرج من الجماعة شبراً فقد خلع ربقة الإسلام من عنقه)) کوم کس چی د جماعت نه د یوے لویشتے په قدر لرے شو نو د اسلام د دائرے نه ئی خپل سټ اوویستلوـ

دا ټول احادیث په دی خبره دلالت کوی چی دا امت اجتماعی طور معصوم دےـ

د اجماع امت د حجة کیدو عقلی دلیل څه دے؟

جواب:عقلی طور هم اجماع حجة دے ځکه چې څه نوی حادثه پیښه شی او څه نص قطعی د قرآن و سنت نه د هغې حکم ظاهر نه وی ۔نو پیغمبر ﷺ زمونږ آخری دے او د وحی سلسله بنده ده او شریعت دائمی دے نو که اجماع حجة نشی نو شریعة به دائمی نشی بلکه منقطع به شی ۔

اجماع امت د هر پیغمبر په امت کښې نه ده او نه زمونږ د پیغمبر ﷺ په حیات کښې حجة ده ځکه چې د پیغمبر په حیات کښې د اجماع ضرورت نشته۔نو داددی امت اعزاز دے او اجماع ددی امت په فروعیاتو کښې حجة ده نه اصولو او عقائدو کښې۔اصول دین او عقائدحقانیه دپاره دلائل نقلیه کافی دی ۔

د اجماع څلور قسمه دی

۱۔چې صحابه رضی الله عنهم مثلاً اووائی **اجمعنا علی کذا** لکه اجماع دصحابه رضی الله عنهم په خلافت د ابوبکر رضی الله عنهُ باندی۔

۲۔بعض صحابه رضی الله عنهم یو حکم بیان کړی او نو بعض پری سکوت اختیار کړی دی ته اجماع سکوتی وائی ۔لکه یکبارګی درے پیرے طلاق ورکول ددی واقع کیدو حکم عمر رضی الله عنه ورکړے دے او نورو صحابه رضی الله عنهم ئی رد ندے کړے ۔

۳۔بعض صحابه رضی الله عنهم د مجتهدینو اجماع(هغه مجتهدین چې صحابه رضی الله عنهم کښې وو)۔

٤۔د صحابی رضی الله عنه په قول د متاخرینو اجماع۔

عمل په څلور واړو واجب دے خو قوت او قطعیت کښې د اولنو دوؤ مرتبه اعلیٰ ده۔دے څلورو واړو قسمونو ته اجماع سندی وائی ۔

بله اجماع مذهبی ده

اجماع مذهبی د بعضو مجتهدینو په یوه مسئله باندی اتفاق ته ویئلے شی۔

اجماع مذهبی په دوه قسمه ده ۔ ۱۔اجماع مرکب ۲۔غیر مرکب

یعنی د مختلفو مذهبونو مجتهدین په یوه مسئله کښی دحکم په اعتبار اتفاق کوی او د علت په اعتبار سره اختلاف وی نو دی ته **اجماع مذهبی مرکب** ویئلے شی لکه یو سړی قے ملئُ الفم وکړو او مس د امرءة نو د امام ابوحنیفهؒ او امام شافعیؒ اتفاق دے چی اودس ئی مات دے۔او په علت کښی اختلاف دے چی اودس ئی په څه مات شو۔

نو **امام اعظمؒ** وائی چی اودس ئی په قئ باندی مات شو نه په مس د امرئة او **امام شافعیؒ** وائی چی اودس ئی په مس د امرئة مات شو نه په قئ۔

او **اجماع غیر مرکب** دیته وائی چی بعض مجتهدین د مختلفو مذهبونو په حکم او علت دواړو اتفاق وکړی لکه په ماخرج من السبیلین سره اودس مات شو نو د دواړو **امامانوؒ** اتفاق دے چی اودس مات دے او په علت ئی هم اتفاق دے چی ماخرج من السبیلین دے۔

سوال:اجماع مرکب خو فساد لره متضمن ده نو دا خو مرکب باطل باندی اجماع شوه ځکه المجتهد یخطئ و یصیب او حق خو یو طرفته دے،لکه مس د امرئة نقض للوضوء دے یا ندے کیدے شی چی عدم نقض حق وی او حکم د بعضو باطل وی ،او کیدے شی چی نقض حق وی او حکم د عدم نقض باطل وی ۔

دغه شان حال د قئ ملئ الفم ناقض للوضوء دے کما هو عند الامامؒ او ناقض ندے کما هو عند الشافعیؒ ۔

جواب:خبره صحیح ده چی دواړو امامانوؒ کښی یو په حق دے او بل په خطا دے۔خو د خطا طرف معلوم ندے یو طرفته هم وهم دے او بل طرفته هم وهم دے او په وهم سره د اجماع په صحت کښی څه فرق نه رازی نو اجماع مرکب په باطل باندی اجماع نه شوه۔

هں که ظهور د فساد یو طرفته یقینی شو نو اجماع به ختمه وی ـ

د اجماع مرکب یو بل قسم هم دے (عدم القائل بالفصل)

یعنی د فصل او فرق نه قائل کیدل یعنی چی یوه مسئله ثابته شی نو بله مسئله به خود بخود ثابته وی ځکه چی دواړه مسئلے داسی وی چی یا به دواړه ثابتی وی یا به دواړه نفی وی ـ دریمه لار درمیان کښی نه وی۔

نو چی یو فریق یوے مسئلے لره ثابته کړی نو هغه بله په پخپله ثابته وی۔لعدم القائل بالفصل۔ځکه چی د فرق او فصل قائل نشته ـ چی یوه مسئله ثابته وی او بله نه وی ددی قول والا څوک نشته ـ

حاصل داچی د اجماع مرکب بل قسم عدم القائل بالفصل دے او ددی هم دوه قسمه دی ـ اول قسم شرعًا حجة دے او دویم قسم حجة ندے۔

کوم چی شرعًا حجة ده دا هغه اجماع مرکب عدم القائل بالفصل ده چی ددواړو مسئلوداختلاف منشا او بنیاد یو وی ـ

کوم چی شرعًا حجة نده دا هغه اجماع مرکب عدم القائل بالفصل ده چی ددواړو مسئلوداختلاف منشا او بنیاد یو نه وی بلکه مختلف وی ـ

فائده:اختلاف او خلاف کښی فرق

په اختلاف کښی مقصود یو وی خو طریقے ئی مختلفی وی ،او خلاف کښی د فریقینو مقصود او طریقے دواړو مختلفی وی۔

بل دا چی خلاف په معتقَداتو او عقائدو کښی استعمالیږی او د اختلاف استعمال په مجتهَداتو کښی وی ـ

بله دا چی خلاف قول بلا دلیل ته وائی او اختلاف قول بالدلیل ته وائی -

سوال: په اجماع مرکب عدم القائل بالفصل باندی پوره فهم دپاره مثال څه دے ؟

جواب:لکه په ايام منهيه کښې دروژې نذر کول صحيح دى او بيع فاسده مفيد د ملک ده عند الامامؒ۔

او په ايام منهيه کښې دروژې نذر کول صحيح ندى او بيع فاسده مفيد د ملک نده عند الشافعیؒ۔

دى دواړو مسئلو کښې د اختلاف منشا يوه ده هغه دا چې نهى د افعال شرعيه نه اصلاً په مشروعيت باندى دلالت کوى عند الامامؒ۔

او عند الشافعیؒ نهى د افعال شرعيه نه اصلاً په عدم مشروعيت باندى دلالت کوى نو د احنافو په نزد به دادواړه مسئلې ثابتې وى ۔ ايام منهيه کښې دروژې نذر کول صحيح دى او بيع فاسده مفيد د ملک ده ۔

او د امام شافعیؒ په نزد به دواړه نفى وى ايام منهيه کښې دروژې نذر کول به صحيح نوى او بيع فاسده مفيد د ملک نه وى۔

او ددى قائل څوک نشته چې نذر صحيح دے او بيع فاسده مفيد د ملک نه ده۔ يا داوائى چې نذر صحيح ندے او بيع فاسده مفيد د ملک ده۔

سوال :که د اجماع مرکب عدم القائل بالفصل دويم قسم هم بيان شى کومه چې حجة شرعى ندے۔

جواب: د اجماع مرکب عدم القائل بالفصل دويم قسم کومه چې حجة شرعى ندے داده چې د اختلاف منشا هم مختلف وى ۔لکه قئ ملئ الفم ناقض للوضوء دے ۔او بيع فاسده مفيد د ملک ده ځکه چې د بلے خبرے پدى کښې څوک قائل نشته يعنى چې څوک قائل دى نو ددواړو قائل دى لکه **احنافؒ** او چې څوک قائل ندى نو ددواړو ندى لکه **شوافعؒ** چې ددوى په نزد قئ ملئ الفم ناقض للوضوء ندے او بيع فاسده مفيد د ملک نده ۔

خو منشا او بنياد ددواړو مسئلو د اختلاف يو ندے،قئ ناقض دےاو کنه ددى منشا جدا ده چې اصل د نقض څه دے خروج د نجاسة من البدن دے او که خروج من احد السبيلين دے ؟

زمونږ په نزد خروج د نجاست من البدن دے نو قئ ناقض دے ۔

او د شوافعؒ په نزد خروج من احد السبيلين دے نو قئ ناقض ندے۔

او بيع فاسده مفيده د ملک ده عندنا۔ او بيع فاسده مفيده د ملک نده عندالشوافعؒ۔

ددی منشا او اصل جدا دے چی نهی د افعال شرعيه نه اصلًا تقاضا د مشروعيت کوی او کنه؟ نو عندنا کوی او عند الشافعیؒ نه کوی۔

سوال: دا قسم اجماع حجة ولی نه دے ؟

جواب: دا ځکه چی د يو فرعی مسئلے صحيح کيدل خو دد ے ثبوت کيدے شی چی اصل ئی هم صحيح دے ۔

خو د يو فرعی مسئلے صحيح کيدل د بلی فرعی مسئلے د اصل صحيح کيدلو ثبوت نشی کيدے ۔

لکه: قئ ناقض للوضوء صحيح حديث سره ثابت شو نو معلوم شوه چی خروج د نجاست من البدن اصل صحيح دے۔

خو دا خو ترينه نه معلوميږی چی هغه بل اصل چی نهی د افعال شرعيه نه تقاضا د مشروعيت اصلًا کوی۔دادی هم صحيح شی او ثابت د شی خو چی د بل اصل صحتيت نه ثابتوی نو دا اجماع هم صحيح نه شوه و حجة نه شو۔

سوال: نهی د افعال شرعيه نه تقاضا د مشروعيت اصلًا کوی ددی قاعدے څه مطلب دے؟

جواب: فعل په دوه قسمه دے يو حسی/ دويم شرعی: **حسی** فعل د مخکښی نه موجود وی لکه شکر ،انصاف، ظلم د شرع د نزول نه مخکښ هم شکر د محسن محمود وو او ظلم د شرع د نزول نه مخکښ هم مذموم وو ۔

دويم قسم فعل شرعی لکه حج، اودس،صلوٰة ،صوم دد ے وجود د شرع د نزول نه بعد معلوم شو ۔

نهی چی په ظلم داخل شی نو دا تقاضا کوی چی اصلًا ممنوع وی ځکه دا فعل حسی دے د شرع د نزول نه قبل هم قبیح وو۔

نهی چی په صوم داخله شوه چی ایام منهیه کښی روژے مه نیسئ نو ددی وجود شرعی دے حسی ندے ،د شرعی د وجود نه مخکښ ددی وجود نه وو ۔

شرعی محمود ګرزولے دے نو که اصلًا قبیح شی نو وجود به ئی ختم شی ۔

نو دا ممنوع وصفًا دے چی اعراض دے د ضیافت د الله پاک نه او اصلًا ممنوع ندے ،نو نذر ئی صحیح دے عندنا خلافًا للشافعیؒ ددی په نزد اصلًا هم ممنوع دے او وصفًا هم نو نذر ئی صحیح نه شو۔

نو زمونږپه نزد قضا دنذر شته کوم نذر د روژے چی د ایام منهیه د کراهت د وجے نه پوره نکړے شو۔

او د امام شافعیؒ په نزد په ده باندی قضا نشته ځکه چی ددی په نزد نذر منل او روژه نیول دواړه ممنوع دی ۔

او زمونږپه نزد نذر صحیح دے او روژه ممنوع ده ځکه اصلًا په دغه ورځ روژه نیول ممنوع ندی خو وصفًا ممنوع دی نو روژه نیول صحیح ندی بلکه قضاء به ئی نیسی ۔

دغه شان بیعه فاسده فعل شرعی دے نو اصلًا مشروع ده او وصفًا غیر مشروع ده عندنا خلافًا للشافعیؒ۔

البحث الرابع فی القیاس

د قیاس معنی ده اندازه لګول وئیلے شی **قاس النعل بالنعل** چپل ئی چپل سره ناپ کړه۔یعنی د یو شی د بل شی سره اندازه کول او دبل نظیر جوړول او **اصطلاحی معنیٰ** حکم او علت کښی د اصل سره د فرعی اندازه کول یعنی پدی غور کول چی کوم علت په اصل کښی دے هغه په فرعه کښی شته کنه؟ او د اصل حکم په فرعه لګولے شو او کنه؟

حکم:قیاس حجت دے په دلیل نقلی او عقلی سره او قیاس مُظْہِر دے مُثْبِت ندے(یعنی حکم ظاهروی ثابتوی نه)

د قیاس په حجتیت باندی د څلورو واړو امامانو اتفاق دے آیت مبارکه:**فاعتبروا یا اولی الابصار** اے د نظر خاوندانو عبرت حاصل کړئ عبرت حاصلول دادی چې یو شے د هغے نظیر طرفته واړوی ګویا چې حکم د یو شی د هغے په نظیر باندی قیاس کړئ۔

او سورة نحل کښی ارشاد دے **او مونږه تاسو ته قرآن پاک نازل کړے دے چې تاسو کومو خلقو ته رسول لیږلی شوی یئ قرآن د هغوی مخی ته واضح کړئ**(دی نه حجتیت حدیث ثابت شو) **او تاکه**(دی دپاره) **هغوی پری غور وکړی**(هم دغه قیاس دے) ۔

او معاذ رضی **الله** عنهُ چې کله نبیﷺ یمن ته لیږلو نو تپوس ئی تری وکه چې فیصلے به څنګه کوی ؟ هغوی عرض ووکه کتاب **الله** سره۔

که پکښی حکم وضاحت سره ونه مومی؟ بیا به سنت حبیبﷺ سره۔

که پدی کښی حکم وضاحت سره ونه مومی؟عرض ئی اوکه خپله رائے او اجتهاد به کوم ۔ فرمان اوشو :شکر دے د **الله** پاک چې هغه د خپل رسول آستاذی ته په هغه خبره پوهه ورکړے کوم چې د هغه رسول ته خوښ دے۔

غور اوکړئ که قیاس حجت نه وے نو حضور ﷺ به د معاذ رضی **الله** عنهُ خبره نوے خوښه کړے او د **الله** شکر به ئی پری نوے ادا کړے۔ ددی نه علاوه نور بے شمیره روایات دی چې په هغے کښی د حضورﷺ او صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین قیاس کول ثابت دی۔

دليل عقلی د حجتيت قياس

زمانه تغير پذير ده نوی نوی واقعات رونما کيږی او د هغې احکام قرآن او سنت کښی ظاهرًا منصوص ندی نو که قياس او اجتهاد جائز نشی نو ددی احکام به څنګه معلومولے شی؟

او قياس حکم ښکاره کوی ثابتول نه کوی احکام صرف قرآن ،سنت او اجماع سره ثابتولے شی ۔

مثال د قياس: قياس په مثل د سمسئ دے درے ديګونه دی (مثلًا)څه خوراک د يو څه د بل او څه دبل راواخلی او خکولے مجموعه د خوراک ظاهره کړی ،

خو که راغستونکے ستر ګی پټی کړی او سمسئ وخی او ګمان داکوی چی سمسئ می ديګ ته کوزه کړی ده او ديګ ته رسيدلی نوی نو د خوراک په ځائے په خاورے راواخلی۔

کوم قياس چی بصيرت سره وی نو هغه داصول شرعيه نه مسئله ظاهروی او کوم چه بصيرت سره نه وی هغه قياس شرعی ندے۔

شرائط دحجتيت قياس

د قياس د حجتيت دپاره پنځه شرطونه دی ۔

۱ ۔قياس به په مقابله د نص نوی ۔لکه څوک اووائی چی مانځه کښی په پاکدامنه زنانه باندی تهمت لګولو سره اودس نه ماتيږی صرف مونځ مات شو نو په قهقهه سره اودس ولی ماتيږی ځکه داخو کمتر ګناه ده؟

نو جوب دادے چی دا قياس په مقابله د نص کښی دے مقبول ندے۔

یا وائی چی په میراث کښی زنانه له دوه برخے پکار دی چی کمزورے مخلوق دے ،دا قیاس هم د نص خلاف دے ۔

۲۔د قیاس په وجه به حکم منصوص کښی تبدیلی نه رازی لکه څوک وائی چی اودس کښی نیت فرض دے قیاس کوی په تیمم باندی ،نو دی قیاس سره اٰیت د وضو **فاغسلوا وجوهكم الاية** کښی تبدیلی رازی اٰیت مطلق دے او قیاس سره به مقید شی په قید د نیت سره ۔

۳۔اصل حکم داسی نه وی چی علت ئی فهم ته نه رازی مثلًا د کهجورو په نبیذ باندی اودس جائز دے خو پدی نور اقسام د نبیذ نشی قیاس کولے ځکه ددی وجه فهم ته نه رازی چی پدی باندی اودس ولی جائز دے ۔

نو **قاعده** داده چی کوم حکم دنص خلاف قیاس وی هغه په خاص وی په خپل مَوْرِدِ پورے فرع ته به دغه حکم نشی اړولے۔لکه **د مونځونو د رکعتونو تعداد ،حدود او کفارات،د زکوٰة نصاب وغیره** غیر معقول المعنیٰ دی بله مسئله پری نشی قیاس کولے ۔

٤۔قیاس به حکم شرعی ظاهرولو د پاره وی معنیٰ لغوی ثابتولو دپاره نه ۔

لکه د انګورو شیره چی پخه شی او اوسیزلے شی نو حرام شی ځکه چی داعقل باندی پرده راولی او د خمر معنیٰ هم پټول دی ،نو دا خو د خمرو لغوی معنیٰ ده حکم شرعی ثابتولو دپاره دا معنیٰ معتبر نده۔

٥۔پنځم شرط د قیاس د صحت دپاره دادے چی فرع کښی خپل نص موجود نوی ،نه نص د قرآن پاک،نه ارشاد د رسول پاکﷺ او نه اجماع۔

لکه څوک وائی چی په کفاره د ظهار کښی کافر غلام ازادول جائز ندی او قیاس کوی د قتل خطاء په کفاره باندی ،نو دا صحیح ندے ځکه چی په فرعه خپل نص موجود دے په نورور کفارو قیاس کولو ته ئی ضرورت نشته۔

تمهید دقیاس

په قیاس کښی درے څیزونه وی ۔

۱۔**اصل** یعنی مقیس علیه قرآن یا حدیث کښی دده حکم ښکاره وی ۔

۲۔**فرع** هغه نوی مسئله چی حکم معلومول ئی مقصود دے۔

۳۔**علت** یعنی وصف مشترکه چی اصل او فرع کښی موجود وی ۔

لکه هیروین فرع ده شراب اصل دی او نشه آور کیدل وصف او علت دے نو د هیروین،آئس او شرابو حکم یو شو۔

پدی کښی بنیادی رکن علت دے او علت هغه وصف او حالت دے چی د هغے سره حکم شرعی جوړ دے ۔

چی دغه وصف وی نو حکم به وی او چی دغه وصف نه وی نو حکم به نه وی ۔

لکه شراب که نشه آور وو نو حرام او که سرکه تری جوړه شوه او نشه تری ختمه شوه نو بیا جائز دی ۔

علت او حکمت کښی فرق : علت مدار دقیاس وی او حکمت مدار د قیاس ندے ،چی علت وی نو حکم وی او چی علت نه وی نو حکم نه وی بخلاف د حکمت چی حکمت که نه وی بیا هم حکم کیدے شی ۔

لکه د ټریفک پولیس سره اشاره علت دے او حکم ئی دادے چی اودریګه او حکمت د حادثې نه بچاؤ دے ،

وس که کوم ځائے د حادثې یره نه هم وی خو علت موجود وی چی سره اشاره ده نو حکم د ودریدو به موجود وی او ودریدل به لازمی وی ـ د حکم تعلق د علت سره وی نه د حکمت سره ـ

او علت به **کتاب الله ،سنت رسول ﷺ ،اجماع،او د قیاس اجتهاد سره پیژندلے شی ـ**

۱ ـ کله کله علت پخپله منصوص وی د کتاب **الله** لکه کثرت آمد ورفت علت دے د استیذان د حکم پورته کیدو دپاره ـ**طوافون علیکم بعضکم علیٰ بعض**ـ

۲ ـسهولت پیدا کول کتاب **الله** علت جوړکړے د مریض او مسافر د روژے د رخصت دپاره ـ

۳ـ کله علت منصوص وی د حدیث لکه د جوړونو سست کیدل علت دے په اوده کیدو سره د اودس ماتیدو ـ

٤ـ کله علت منصوص وی په اجماع کښی ماشوم والے ئی په اجماع سره دپلار په بچی باندی د ولایت ثابتولو دپاره علت ګرزولے دے ،نو د نابالغ حکم به په نکاح کښي هم دغه شان وی د پلار ولایت به معتبر وی ـ

۵ـاو کله علت غیر منصوص اجتهادی وی لکه سودی اموالو کښی **قدر مع الجنس** علت دے دا فقهاء احنافو د ربوٰ علت خودلے دے د اشیاء ستة په روایت کښی ـ

تشریح: اشیاء سته د نبیﷺ ارشاد دے :سره زر په سرو زرو په عوض سپین سپینو غنم د غنمو وربشے د وربشو کهجورے د کهجورو او مالګه د مالګې په عوض یو مثل په مثل برابر سرابر لاس په لاس خرڅوئ۔

نو چې کله دا اجناس بدل وی نو بیا چې څنګه خر څوئ جائز دی خو چې لاس په لاس وی ۔

قدر معنیٰ ده ناپ کول یا تول کول

او جنس معنیٰ ده هَم جنس کیدل

نو د حرمت د ربویٰ اصل علت قدریت دے او هم جنس کیدل شرط دے او د علت کارآمد کیدلو د پاره دوه خبره ضروری دی ۔

۱۔صلاحیت : یعنی مناسبت چې داعلت د نبیﷺ او صحابه رضی **الله** عنهم اجمعین او تابعینو نه منقول علتونو سره سمون خوری ،

لکه چې د نابالغ کونډے په حق کښې داحکم دے چې د هغې نه دتپوس نه بغیر نکاح کولے شی ځکه چې دا لا ماشومه ده پس دا استدلال مناسب علت سره دے ۔

صورت: د نابالغ نکاح وشی او د ملاقات نه مخکښې طلاق ورکړی یا خاوند مړ شی نو دا نا بالغه کونډه ده۔

تشریح: د ماشوم والی علت نا بالغه هلک کښې اعتبار شوے دے نو د مناسب علت ذریعے سره استدلال دے۔

۲۔عدالت: یعنی اثر اندازی یعنی د علت اثر بعینه په دغه حکم کښي یا دهغې په جنس کښې ظاهر شوے وی لکه بکثرت آمد ورفت اثر د پشو په جوټه کښې ظاهر شوے دے او دا په عین حکم

کښې اثر ظاهریدل دی ځکه چې د دواړو حکمونو **استیذان او طهارت** تعلق د دخول او خروج /تګ راتګ سره دے ۔

لکه نبیﷺ فرمائیلی دی :پشو ناپاکه نده ځکه دا بکثرت راتلونکی ده۔

نو احنافو هم په دے علت سره د **سواکن البیوت منګک ،مار،لړم وغیره** د جوټې د طهارت فیصله کړے ده ۔

او څنګه چې د بچی نابالغ کیدلو اثر د مال په ولایت کښې ظاهر شوے دے او جنس حکم کښې اثر ظاهر کیدل دی ځکه چې **مال او نفس** دوه مختلف نوعے دی ،یعنې **احناف او شوافع** دواړه متفق دی چې که ماشومه نابالغه وی نو دهغې په مال باندی ولی ته ولایت حاصل دے خواه هغه باکره وی یا ثیبه وی پس نکاح کښې به ددغه علت اعتبار وی باکریت او ثیبیت علت نشی جوړیدے ،

ځکه چې پدی کښې وصف د عدالت نشته یعنی اثر اندازی ئې ظاهره شوے نده ۔

غرض داچې په علت کښې مناسبت موندلو نه مخکښې په هغې باندی عمل صحیح ندے ،ځکه چې په علت باندی عمل کول یوه شرعی خبره ده دکوم دپاره چې دلیل ضروری وی او دلته دلیل مناسبت موجودیدل دی او چې کله مناسبت یعنی صلاحیت اوموندلے شو نو پدے باندی عدالت /اثراندازی ظاهر کیدلو نه بعد عمل کول واجب دی دی وجهے نه چې د مناسبت نه بعد هم احتمال شته چې دغه علت مقبول نه وی د وصف عدالت فوت کیدو د وجهے نه پس د علت اثر په یو ځائے اثر ظاهر کیدو نه

پیژندے شی لکه نابالغه کیدو اثر د هغې په مالیت کښې ظاهر شوے دے او د باکره کیدو اثر یو ځائے ظاهر شوے ندے ۔

انواع القیاس

قیاس په دوه قسمه دے ۔

۱ ۔هغه قیاس چې په هغې کښې فرع کښي حکم په اصل کښي د ثابت شوی حکم نوعه وی ،لکه زمونږ قیاس چې نابالغ کیدل په هلک کښي د نکاح کولو د ولایت علت دے نو جینئ کښي هم د نکاح کولو د ولایت ثبوت وی ځکه چې هم دغه علت جینئ کښي اوموندل شی،او هم پدی قیاس سره به د نابالغې کونډے حکم ثابت شی۔

تشریح:په دی مسئله کښي نابالغه کونډه په نکاح کول فرعه ده او نابالغه باکره په نکاح کول اصل دے او په اصل کښي حکم د ثبوت د ولایت نکاح دے هم دغه حکم بعینه په فرع کښې ثابت کړے شوے دے ۔

۲ ۔هغه قیاس چې په هغې کښي فرع کښي حکم اصل کښې ثابت شوی حکم د جنس نه وی لکه بکثرت تګ راتګ د اجازت طلبی ضروری نه کیدو علت دے او نبیﷺ دغه حکم د پشو په جوټه کښې ورکړے دے ځکه چې د جوټے د ناپاکه کیدو تنګی د هغې تنګئ د جنس نه ده د نوع نه نه ده۔

د پشو د جوټے تعلق د خوراک څښاک او اودس سره دے او د وړو او غلامانو د اجازت تعلق د تلوراتلو سره دے نو ددواړو د تنګئ نوعیت مختلف دے خو جنس ئې یو دے۔

الاحکام الوضعیه السبب والشرط والمانع

لکه څنګه چی احکام شرعیه پنځه دی
ایجاب،ندب،اباحت،حرمت،کراهت۔

دغه شان احکام وضعیه کوم چی د احکام شرعیه باعث او مقتضی وی داهم پنځه دی ۔**علت،سبب،شرط،علامت،مانع۔**

وجه د حصر: چی کومه بهرائی/بیرونی خبره ده چی د حکم سره ئی تعلق وی نو یا به حکم کښي مؤثر وی نو **علت** دے لکه نشه آور کیدل د شئ د شرابو د حرمت باعث دے نو دی وجهے نه دا علت دے ،

یا به حکم پورے مفضی وی حکم کښي د اثر اندازئ نه بغیر نو دا **سبب** دے لکه د مونځونو وختونه د مونځونو دپاره اسباب دی ۔

کله کله علت ته مجازًا سبب ویئلے شی ۔

او یا به نه مؤثر وی او نه به مفضی وی پس که خارجی شی باندی د حکم وجود موقوف وی نو دا**شرط** دے۔لکه د مانځه د پاره د وضو وغیره شرطونه۔

او د حکم وجود موقوف نه وو صرف دلالت دپاره نشانی وه نو دا **علامت** دے لکه مناره د جومات علامت دے۔

او هغه خارجی خبره چی حکم د موجودیدو نه منع کړی **مانع** دے لکه د شی مردار کیدل د بیع نافذ کولو نه منع کوی۔

حکم څنګه چی د **علت** سره ثابتیږی د هغے د **سبب** سره متعلق وی او چی کله **شرط** اوموندلے شی نو حکم اوموندلے شی او چی کله **مانع**

وی نو حکم منع کوی دد ے وجهے نه ددی تمامو اشیاءو بیان ضروری دے۔

سبب:

یو شی ته ئی ورسوی خو اثر اندازئ نه بغیر وی لکه **لار** چی سړے منزل ته او **رسئ** سړے اوبو ته اورسوی نو دا دواړه اسباب دی۔

شرط:

چی دهغے نه بغیر شے پوره نه وی او هغه ددغه شی ماهیت کښي داخل نه وی لکه **وضو** د مانځه دپاره شرط دے۔

مانع:

چی د سبب موجودګئ باوجود د حکم موجودیدو لره بند کړی ۔لکه ځوے پلار قتل کړی نو د میراث نه به محروم وی او حال دادے چی میراثی کیدل موجود دی چی ځوے والے دے۔

ما يتعلق بالعلة والسبب

ړومبئ خبره:

چی کله علت او سبب دواړه جمع شی نو حکم به علت طرفته منسوب وی ۔لکه که یو کس بل چاته مال وخودو چی ورشه دا غلا که ،او هغه غلا کو،نو مال خودونکی باندی ضمان هم نشته او لاس به ئی هم نه پری کیږی ځکه دے سبب دے او علت هغه دے چاچی غلا کړیده نو هغه به ضامن وی او قطع ید هم ۔

البته خبر ورکونکی له به تعزیر(مناسب سزا) ورکولے کیګی۔

دويمه خبره:

کله کله سبب بمعنیٰ علت وی او دا هله وی چی کله علت د سبب په ذریعه ثابت وی نو حکم به سبب ته منسوب وی ځکه درحقیقت هغه د علت علت دے۔

لکه یو سړے څاروے شړی او هغه په خپو څوک اومړو نو شړونکے به ضامن وی ځکه چی د څاروی په خپل فعل کښی اختیار نه وی ۔نو اگر چی هغه علت دے ،خاص طور چی شړونکے ورسره وی پس شړونکے چی سبب دے د اتلاف او اهلاک بمعنیٰ علت شو ددی وجے نه به حکم سبب طرفته منسوب وی۔او ویئلے به شی چی نقصان ددی سړی دے۔

دریمه خبره:

کله سبب دعلت په ځائے قائم وی او دا په هغه ځائے کښی چی په علت باندی عالم کیدل مشکل وی ،نو داسی عمل کښی د مکلف د پاره سهولت دے ۔

لکه جَوَر خوب/خخ اوده کیدل د بے اودسه کیدو پځائے قائم دے۔ ځکه خوب بنفسهٖ ناقض ندے۔

او دغه شان خلوت صحیحه قائم دے په مقام د صحبت او

کوروالی ،او سفر قائم دے په ځائے د مشقت په حکم د رخصت کښی ۔

دا ټول اسباب دی علل ندی علل د ناپاکۍ بدن نه وتل،صحبت کول،مشقت موجودیدل دی ۔

خو خخ خوب په حالت کښی ،تنهائی کښي ،او سفر کښي د حقیقی عللو ادراک مشکل دے (کما لایخفیٰ) نو دے وجهے نه اسباب ئی د عللو په ځائے قائم کړل او د حکم مدار دغه اسباب دی ـ

څلورمه خبره:

کله مجازًا غیر سبب ته سبب وئیلے شی لکه قسم خوړلو ته د کفارے سبب ویئلے شی حالانکه حقیقی سبب خو ئی قسم ماتول دی ـ ځکه قسم خوړل خو جائز کار دے **الله پاک او رسول الله**ﷺ **قسم خوړلے دے** نو دا سبب د کفارے څنګه شو؟ خو دا مجازًا کفارة الیمین وئیلے شی ـ

بیان بعض الاسباب

خبر شه چی د **مانځه** اسباب دوجوب د مانځه وختونه دی او **دروژے** سبب دوجوب ماه رمضان دے او د **زکوٰة** سبب حقیقةً یا حکمًا دډیریدو والا نصاب مالک کیدل دی ـ**حقیقة** لکه توالد تناسل او کاروبار سره ډیریږی،او **حکمًا** ډیریدل دادی چی په ډیرولو قدرت حاصل وی چه مال دده سره یا دده دنائب سره وی نو ډیرولے ئی شی ـ

او د**حج** د وجوب سبب بیت **الله** شریف دے ـاو د **صدقه فطر** د وجوب سبب شخص او ذات دے چی د آدمی په ذمه د هغه مصارف وی او په هغه ئی اختیار وی ـلکه سړے خپله او د نابالغ اولاد او د غلام وینزو خرچه برداشت کوی نو صدقه فطر به هم ورکوی ـد**عشر** د وجوب سبب حقیقةً ډیریدو واله زمکے دی ـیعنی په زمکی کښي څه پیدا شی نو هله به عشر واجب وی ـاو د **خراج** سبب د وجوب قابل ذراعت اراضی وی که څه پکښی پیدا شی او

کنه۔او د **اودس** وجوب د سبب عند البعض مونځ دے او عند البعض حدث دے ۔د **غسل** سبب حیض ،نفاس او جنابت دے۔

بیان الموانع

موانع څلور دی۔

۱۔هغه مانع چی علت علت کیدو ته نه پریګدی لکه ازاد ،مردار او وینه خرخول چی دا د بیع محل ندی بیع د ملکیت علت دے خو مانع علت لره د علت جوړیدو نه منع کړو۔

۲۔هغه مانع چی علت تام کیدو ته نه پریګدی:لکه کال پوره کیدو نه مخکښی نصاب کم شو نو زکوٰة واجب ندے،ځکه چی علت تام نه شو۔

۳۔هغه مانع چی د حکم ابتداء منع کوی لکه خیار شرط سره بیعه نو بیعی احکام مثلًا مبیعه د بائع د ملکیت نه وتل وغیره شروع نه منع کوی۔

٤۔هغه مانع چی د حکم دوام بند کړی:لکه ماشومتوب کښی کړے شوے نکاح له **خیار بلوغ** ددغه نکاح دوام منع کوی نو بعد البلوغ که چری نکاح په خپل اختیار سره ختم کړی نو نکاح به باقی نه پاتی کیږی۔

دقیاس د تردید بیان

دبل کس د قیاس تردید په اته[8] طریقو سره کولے شی ۔

۱۔ممانعه: د مستدل یا قیاس کونکی پوره دلیل یا د هغے مقدمه رد کول ۔

او ددی دوه قسمه دی ۔

الف:علت نه تسلیمول: چی ستا په قیاس کښی کوم وصف علت جوړکړے دائی علت دے نه۔لکه **امام شافعیؒ** وائی چی د صدقة الفطر د وجوب علت روژه ماتول دی یعنی د روژے میاشت ختمیدل دی او د فطر تاریخ چی کوم ماښام شروع شی نو په دغه وخت صدقة الفطر واجب شی ۔

پس که څوک د اختر په شپه مړ شو نو صدقه فطر پری واجب ده چه د وجوب وخت کښي ژوندے وو۔

احنافؒ داعلت نه تسلیموی د هغوی په نزد باندی علت ذات راس دے د چا مصارف خرچ اخراجات چی څوک برداشت کوی ۔او صدقة الفطر د سحر په وخت واجب کیګی۔

بنا برین که یو کس د صبح صادق نه مخکښی پیدا شو نو صدقة الفطر پری واجب ده او که یو کس د صبح صادق نه مخکښی وفات شو نو صدقة الفطر پری نشته۔

ب۔حکم نه تسلیمول:یعنی په کوم علت سره ئی چی حکم ثابت کړے دے نو علت صحیح دے خو حکم ئی دغه ندے۔

لکه **امام شافعی**ؒ دسر مسح باره کښی فرمائی چی دا فرض ده نو مسح درے پیرے کول سنت دی لکه چی اندام مغسوله درے پیرے وینځل سنت دی ۔

احنافؒ فرمائی چی بے شکه چی مسح فرض ده خو دی علت سره د دریو پیرو وینځلو حکم ثابت نه دے نه په سر کښی او نه په اعضاء مغسوله کښی بلکه دی علت نه اکمال سنتیت ثابتیږی ،بیا اعضاء مغسوله کښ یو پیره کامل وینځلو سره فرض اداکیږی نو تکمیل به ئی درے پیرے وینځلو سره حاصل شی ،او په سر مسح د څلورم

حصے فرض ده نو تکمیل به ئ استیعاب سره حاصل شی نه چی درے پیرے مسح کولو سره۔

۲۔تردید په موجب د علت: یعنی علت سره ثابت شوی حکم باندی خبره او کلام کول یعنی د مستدل علت تسلیم کول خو حکم ئ دغه نه دے چی کوم مستدل بیانوی بلکه حکم ئ بل دے۔

لکه **امام زفرؒ** فرمائی چی ځنګل حد دے پس دا به د وینځلو حکم کښی شامل نه وی ځکه چی حد په محدود کښی داخل نه وی ۔

احنافؒ فرمائی چی ځنګل د ساقط حد دے یعنی د لاس د هغے حصے حد دے کوم چی ترخ طرفته دے او د وینځلو د حد نه باهر دے ،

نو ځنګل به د وینځلو د حد نه باهر نوی ځکه چی حد په محدود کښی داخل نه وی ۔

۳۔قلب ددی دوه[۲] قسمه دی ۔

الف:علت حکم ته او حکم علت ته اړول:لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی یو موټے غله د دوؤ موټو غلی په بدله کښی خرڅول حرام دی ځکه چی د غلی کثیر مقدار کښی ربوٰی جاری کیدل قلیل مقدار کښی ربویٰ ثابتوی لکه اثمان یعنی **سونا او چاندی** ۔

احنافؒ وائی هم دغه صورت دے خو معامله برعکس ده یعنی قلیل مقدار کښی ربوٰ جاری کیدل کثیر مقدار کښی ربوٰ جاری کیدل ثابتوی لکه اثمان یعنی **سونا چاندی ۔**

تشریح:سونا چاندی موزونی یعنی د تول ځیزونه دی او د تول د پاره د ماشے حصے دی ۔

او غله مکیلی یعنی د ناپ والا اجناس دی او ناپ دپاره د نیم صاع نی کمه پیمانه نشته ،او شیاء سته په حدیث کښې د احنافو په نزد علت قدریت او جنسیت دے یعنی مکیلی یا موزونی کیدل دی ۔

سونا چاندی کښې موزونیت وزن او غله وغیره مکیلی کښې کیل علت دے ۔

د **امام شافعیؒ** په نزد سونا چاندی کښې علت ثمنیت دے او غله وغیره کښې طُعم دے مکیلیت ندے ۔

نو دی وجهے نه هغوی فرمائی چی د غلے په لګ مقدار کښې هم ربوٰ متحقق ده او موټے غله په دوه موټی غلے سره خرخول جائز ندی ۔

نو امام شافعیؒ ډیر مقدار کښې د ربوٰ تحقق علت جوړکړے دے د قلیل مقدار کښې د ربوٰ د تحقق دپاره او دائی په اثمان قیاس کړے دے ۔

احنافؒ وائی معامله برعکس ده قلیل مقدار کښې د ربویٰ تحقق کثیر مقدار کښې د ربویٰ تحقق دپاره علت دے ،او په غله کښې قلیل مقدار نصف صاع دے ددی نه وړه پیمانه نه وه نو صرف دی پورے به غلی بحکم اثمان وی ۔

ب:د حکم علت د هغې د ضد دپاره علت جوړول:لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی د رمضان روژه فرض ده پس ددی متعین نیت کول ضروری دی لکه د رمضان قضا کښې چی دا خبره ضروری ده۔

احنافؒ وائی چی د رمضان روژه فرض ده نو هر کله چی شریعة د رمضان میاشت روژے لره متعین کړه نو د بل چا تعین ضرورت پاتی نشو،لکه د رمضان د روژے قضا چی کله روژه دار پخپله متعین

کړی نو د بل چا د تعین ضرورت بیا پاتی نه وی بلکه د بنده تعین کافی وی ۔

٤۔عکس: یعنی اړولے التہ ،اودا حکم د خپلے طریقے نه خلاف اړول دی ۔

لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی د ښځو په کالوکښ زکوٰة واجب ندے ځکه چی هغه د استعمال دپاره دی لکه چی د هغوی د استعمال کپړو کښ زکوٰة واجب ندے۔

احنافؒ وائی که داسی خبره شی نو بیا خو د سړو په کالو کښی هم زکوٰة واجب ندے لکه چی د سړؤ په کپړو کښی زکوٰة واجب ندے، حال دادے چی د **امام شافعیؒ** په نزد د سړو په کالو ګوتۍ وغیره کښی زکوٰة واجب دے ۔

٥۔د علت د حالت فساد :یعنی علت د حکم قابل ندے لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی ښځه خاوند کښی یو مسلمان شو نو نکاح په ختم شی لکه څنګه چی دواړو کښی یو مرتد شی او نکاح ختم شی ۔

احنافؒ فرمائی چی د اسلام راوړل د فساد د نکاح علت جوړول صحیح ندی حال دادے چی اسلام د حقوقو محافظ دے ختمولو او فاسدولو واله ندے ۔

٦۔فرق جدائی :دیته قیاس مع الفارق هم وائی ۔ لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی د نابالغ په مال کښی هم زکوة واجب دے ځکه چی په

دی سره د فقیر حاجت روائی ده ،لکه چی د بالغ په مال کښی د زکوة هم دغه علت دے ۔

احنافؒ فرمائی دا علت ندے بلکه دا خو حکمت دے او علت د گناه نه پاکیدل دی پس د بالغ او نابالغ حکم کښي به فرق وی چی بالغ گناه گار دے او نابالغ بے گناه دے۔

۷۔نقض(ماته): یعنی دا خبره بیانول چی حکم د علت نه وروستو پاتے دے لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی وضو پاکی ده دی دپاره نیت ورله ضروری دے ۔

احنافؒ وائی بیا ناپاکه کپړے او بدن پاکولو دپاره نیت ولی ضروری ندے ۔

۸۔معارضه(مقابله):یعنی مستدل چی په کومه خبره دلیل قائم کړے دے دهغے خلاف دلیل قائم کول لکه **امام شافعیؒ** فرمائی چی د سر مسح فرض ده پس درے پیرے کول سنت دی ،لکه چی اعضاء مغسوله درے پیرے وینځل سنت دی ۔

احنافؒ فرمائی چی د سر مسح فرض ده پس درے پیرے مسح کول سنت ندی لکه د موزو مسح او د تیمم مسح کښی درے والے سنت ندے۔

مبحث الاحکام المشروعة،داحکام شرعیه بیان

احکام مشروعه په څلور قسمه دی

۱۔فرض: معنیٰ ئی مقرر کول دی او دا هغه حکم دے چی په داسی دلیل قطعی سره ثابت وی چی په هغې کښی د شک هیڅ ځائے نه وی ۔

حکم: فرض باندی عمل لازم دے او اعتقاد ئی هم ضروری دے او انکار ئی کفر دے ۔

۲۔واجب: د وجوب نه جوړ دے معنیٰ ئی ده ارتاویدل او دا هم په بنده بے اختیاره راتاؤیګی ځکه ورته واجب وائی :دا هغه حکم دے چی په داسی دلیل سره ثابت وی چی د شک شبهے ځائے پکښې وی ۔

لکه آیات کښی تاویل سره ثابت شوے وی لکه :**وعلی الذین یطیقونه فدیة الایة** دد ے أیت نه بعضو صدقة الفطر ثابت کړے ده خو دا تاویل دے یقینی خبره نده ۔

او لکه صحیح اخبار آحاد ځکه چی دا مفید د ظن وی ۔

لکه **وتر او عیدینو** مونځونه واجب دی په صحیح اخبار آحادو سره ثابت دی ۔

حکم: واجب عملًا فرض دی ددی د پریخودلو ګناه داسی ده لکه د فرضو ګناه او اعتقادًا نفل دی ،نو ددی د وجوب اعتقاد ساتل لازم ندی که چا تاویل سره د دد ے د وجوب نه انکار وکو نو کافر ندے۔

۳۔سنت: معنیٰ ئی طریقه او لاره ده او سنت هغه کار ته وائی چی رسول **الله** ﷺ یا خلفاء راشدینو رضی **الله** عنهم مواظبت سره کړے وی ۔

حکم:د سړی نه به د احیاء سنت مطالبه کولے شی او په ترک د سنت به سرزنش کیږی هاں که کله کله په عذر سره سنت پاتی شی نو سرزنش به نه وی ۔

٤۔نفل:معنیٰ ئی ده زیادتی ،نفل هغه عبادت دے چی فرائض او واجباتو نه زائد وی پس سنت هم نفل دی دیته تطوع او مندوب هم وائی ۔

حکم:ددی په اداکولو باندی ثواب دے او په پاتی کیدو باندی سزا نشته۔

مبحث الاحکام المنهیه

کوم احکام چی شرعًا ممنوع دی په درے قسمه دی۔

١۔حرام:د حلال ضد دے دا هغه کار دے چی نه کول ئی په داسی دلیل قطعی سره مطلوب وی چی په هغے کښی دشک ځائے نه وی ۔لکه :زنا غلا وغیره۔

حکم:ددی د ممنوع کیدو ااعتقاد لرل لازم دی او ددی نه ځان ساتل لازم دی او دد ے انکار کفر دے ۔

٢۔مکروه تحریمی:هغه حرام چی دد ے حرمت په داسی دلیل سره وی چی په هغے کښی د شک شبهے ځائے وی لکه حرمت د **خر** ددی حرمت په خبر واحد سره ثابت دے۔

حکم:ددی نه ځان ساتل واجب دی اوددی د حرمت غالب ظن لرل هم ضروری دی او بغیر تاویل نه منکر ددی گمراه دے۔

٣۔مکروه تنزیهی:هغه کار دے چی دراصل حرام وی خو عموم بلویٰ(چی یوه خبره عملی طور خوره او عامه شی) د وجے نه ئی

حرمت ختم شوے وی ۔ او داسی حال وی چی خلق په دغه سلسله کښی مجبوره وی لکه د پشو جوټه،

یا دغه کار دراصل مباح وی خو داسی خبره راو ځی چی د اباحت نه ئی اُباسی خو د حرمت ظن غالب ئی نه وی ۔لکه د ځرونکو ځاورو جوټه ۔

حکم:ددی نه ځان ساتلو کښی ثواب دے او مرتکب ددی ته سزا نشته۔

مراتب الامور المشروعة

د جائزامورو دوه قسمه دی او دا د مکلف د حالاتو په اعتبار سره دی ۔

۱ ۔عزیمت:ددی معنیٰ ده پخه اراده کول ،او دا هغه احکام دی چی ابتداءً په مونږه لازم دی لکه عامو حالاتو کښی چی کوم احکام وی لکه پنځوخته مونځ ،درمضان روژے ،په ولاړه فرض مونځ کول وغیره،

۲ ۔رخصت:ددی معنیٰ ده سهولت او اسانی او حکم لره د تنګئ نه اسانئ طرفته اړول ۔یعنی رخصت هغه حکم دے چی د عذر یا عارضی وجهے نه ثابت شی ،لکه بیمار او مسافر ته د روژے نه نیولو اجازت دے۔

بیا رخصت په دوه قسمه دے۔

الف:حرمت ئی باقی وی لکه داکراه په صورت کښي كلمة د کفر وئیل او زړه په ایمان باندی مطمئن وی ۔

حکم:که صبر وکړے شی نو ډیر اجر به میلاؤ شی ۔

ب: کوم کار چې د سبب حرمت باوجود جائز ګرزولے شوے وی ،لکه یو سړے مردار خوړلو باندی یا شراب څښلو باندی مجبوره شو او د جان یا د یو اندام د هلاکت ظن غالب وی ،یا په لوَږه کښې مجبوره شی نو مردار خوړل یا شراب څښل جائز دی ۔

حکم: که د مردار خوړلو نه ئی ځان ساتلو او ووجلےشو،یا د لوږے نه مړ شو نو ګنهګار به وی ځکه چې د جائز شی نه ئی ځان ساتلو او هلاک شو۔

مامور به

په دوه قسمه دی : حسن لعینه ،حسن لغیره

۱۔حسن لعینه: دا بیا په دوه قسمه دی ۔

الف:حسن لعینه دائمًا: چې مامور بهٖ او د هغے صفت حسن کښې اتحاد وی او دا صفت دحسن د هغے مامور به نه نه جدا کیږی لکه **تصدیق قلبی** چې ددی د پریخودو په یو صورت اجازت نشته۔یا لکه **مونځ** چې ددی هرهر جز د حسن نه خالی ندے هره ادا د خپل رب تعظیم دے۔

ب:ملحق بحسن لعینه: چې حسن ئی په ذات کښې نه وی خو دا حسن په یوه واسطه سره رازی۔لکه زکوٰة بظاهر مال خرچه کول دی او په خپل مال کښې کمے کول دی ،خو د فقیر ضرورت پوره کوی زکوٰة ورکونکے د **الله** تعالیٰ نائب جوړ شی په رفع د حاجت د فقیر کښې نو اضاعت د مال نه انفاق فی سبیل **الله** جوړ شو ۔

۲۔مامور بهٖ حسن لغیره هم په دوه قسمه دے۔

۱۔چې مامور بهٔ کښې حسن د غير په وجه وی او دغه غير د مامور بهٔ نه بلکل جدا وی او د غير وجود د مامور بهٔ نه بعد وی او حسن په مامور کښې د غير د وجود نه بعد راغلے وی۔

لكه :وضو ، سعی الی الجمعه۔

۲۔هغه چې مامور بهٔ کښې حسن د غير په وجه وی خو دا غير د مامور بهٔ د ادائيګۍ سره يو ځائے وی ۔

لكه :په مړی باندی د جنازی مونځ کول بظاهر د بت پرستۍ سره مشابهت دے خو د حق المسلم او اسلام په وجه پکښې حسن راغے،که په ميت کښې اسلام نه وے نو د مونځ حق بيا نه وو او اسلام د بنده فعل اختياری دے،دغه شان **جهاد** کښې حسن د اعلاء كلمة **الله** د وجے نه دے،كه كفر د كافر نه وے نو جهاد كښې به حسن نه وو او كفر د بنده فعل اختياری دے ۔

فائده:شبه پيدا شوه چې **د حسن لعينهٖ دويم قسم او د حسن لغيرهٖ دويم قسم کښې فرق نشته** بلکه ددواړو حسن په واسطے سره دے۔

جواب: دادے چې حسن لعينهٖ دويم قسم کښې واسطه د **الله تعالیٰ** خالص تخليق دے د بنده فعل لره پکښې دخل نشته،

او حسن لغيرهٖ دويم قسم کښي واسطه د بنده فعل اختياری دے چې اسلام دمسلم او کفر دکافر۔

اصوليينو ته په دی مقام کښې ډير سوالات دی دا تشريح د هغې حل دے۔ الحمد لله

مجاز

بغیر مناسبت او علاقې نه لفظ دخپلې معنیٰ نه بغیر په بله معنیٰ کښې استعمال نوم مجاز دے،مناسبت ضروری دے دے اعتبار سره مجاز په دوه قسمه دے۔

چی معنیٰ حقیقی او مجازی کښی صورةً هم مناسبت وی او معنیً هم ۔

چی صورةً مناسبت وی نو دیته مجاز مرسل وائی او چی معنیً مناسبت وی نو مجاز مستعار ورته وائی ۔

لکه **باران او وریځ** دواړو کښی صورة دومره تعلق دے چی فضا کښی دواړه یو ځائې وی خو لازم ملزوم ندی ممکنه ده چی وریځ وی او باران نه وی۔ دا مثال محسوساتو کښي شو۔

حکم شرعی کښی دد ے مثال متعه ده ملک رقبی او متعه کښی دجماع هم جوړ دے۔

د معنوی مناسبت مطلب دادے چی دوه څیزونه په دریم څیز کښی مشترک وی او دغه وصف دواړو کښی موجود وی ۔لکه اسد (زمرے)او شجاع(بهادر) دواړه وصف د بهادرئ شجاعت کښي شریک دی ورنه بهادر او زمری کښی هیڅ ظاهری قرب اوجوړ نشته۔

دغه شان د علاقه شرعی حقیقت دادے چی یو شی کښی یوه خاصه معنیٰ شرعیه موجود وی او په بل شی کښی د دغه قسم معنیٰ موجود وی لکه **صدقه ،هبه** دواړو کښی علاقه معنویه موجود ده یعنی بلا عوض چاله د مال مالک جوړول ،نو ددواړو اطلاق په یو بل جائز دے۔ فرق دادے چی صدقه کښی رفع د

حاجت پهلو غالب وی او هبه کښې د اعزاز او اکرام پهلو غالبه وی -

مجاز مرسل کښې څلوریشت علاقه صوریه موندل کیږی

۱ ـ سبب مسبب(نبت المطر) ۲ ـ مسبب سبب(اعصر خمرًا)

۳ ـ جزء کل(یجعلون اصابعهم فی اذانهم) ٤ ـ کل جزء(تحریر رقبة)

۵ ـ لازم ملزوم (کل شیٔ ناطق بوجود الباریٔ) ٦ ـ ملزوم لازم(شد الازار)د اعتزال عن النساء لازم دے

۷ ـ مقید مطلق(شفر)ددوزخ دشونډو اطلاق په مطلق شونډو

۸ ـ مطلق مقید(لمن الملک الیوم) ۹ ـ خاص عام(ناطق للحیوان)

۱۰ ـ عام خاص(ملٰئکة)لجبریل ومیکٰئیل ۱۱ ـ حذف مضاف(واسئل القریة)اهل القریه

۱۲ ـ حذف مضاف الیه(ضُرب الغلامُ) ای غلام فلان ۱۳ ـ مجاورت(جری المیزاب)

۱٤ ـ اتصال(۱۵ ـ وصف فی الماضی (بالغ ته یتیم وئیل)

۱٦ ـ ظرف مظروف(محل حال)(یو ګلاس اوسکه) یعنی اوبه

۱۷ ـ مظروف ظرف(حال محل)(ففی رحمة **الله**) ای الجنة

۱۸ ـ الیت طویل اللسان خبر لوس

۱۹ ـ بدلیت اخذ دمَ اخیهٖ)

۲۰ ـ ضدیت(بصیر) للاعمیٰ

۲۱-زیادت(لیس کمثله شیئ)

۲۲-حذف(یبین **الله** لکم ان تضلوا) ان لا تضلوا

۲۳-نکره للعموم(علمت نفس ما احضرت) کل نفسٍ)

۲۴-باعتبار مایؤل الیه(لکه طالب ته ملا ویئل)